# د مبــارزې الفــبا



ليکوال: احسان طبري

ژباړن: شرف واکــمن

# د مبارزې الفبا

لیکوال: احسان طبري

ژباړن: شرف واکمن

- د کتاب نوم: د انقلابي مبارزې الفباء
- لیکوال: احسان طبري
- ژباړونکی: شرف واکمن
- د بریښنايي خپرولو نېټه: ۲۰۲۰، فبروري

# لړ

يادونه ........ ١
ماركسيستي - لنينيستي نړۍ ليد ........ ٣
ماركسيستي فلسفه ........ ٦
د تړاو قانون ........ ٧
د خوځښت او تغير (بدلون) قانون ........ ٨
د تضاد قانون ........ ٩
د تكامل قانون ........ ١٠
تيوري او پراتيک ........ ١٣
د شناخت تيوري ........ ١٥
د تاريخي ماترياليزم په اړه څو ټکي ........ ١٧
د ټولنې طبقات او دولت ........ ٢٤
اقتصادي - ټولنيز فرماسيونونه ........ ٢٦
د ماركسيستي اقتصاد اړوند څو ټکي ........ ٣٠
د گوند په اړه ........ ٣٩
ستراتيژي او تاکتيک ........ ٤٤
په نړۍ او افغانستان كي كارگري انقلابي غورځنگ ته كتنه ........ ٤٧

# ډالـــــۍ

هغو نويو ځوانانو ته، چې تازه د خپل انساني رسالت د تر سره کولو لپاره، د مبارزې له صفوفو سره يو ځای کېږي.

# یـــادونـــه

د مبارزې  په الفبا کې د مارکسیستي ـ لنینستي نړۍ لید او د کارگرې طبقې د نوي ډول گوند د اصولو او موازینو په هکله اړین توضیحات شته، یانې د ایران د «توده» د گوند علمي بنسټ دی.

هڅه شوې ده، چې مطالب نه یوازې ساده او لنډ بیان شي، بلکې تر ټاکلې اندازې پورې اړین ټکي هم په ځان کې ولري. دا جزوه (رساله) د هغو نویو ملگرو سره مرسته کوي، چې تازه یې انقلابي غورځنگ ته مخه کړې وي او لا تراوسه ددې علم د بنسټونو په باره کې منظم مالومات نه لري.

تجربو ښودلې ده، چې په ټولنیزو مبارزاتو کې د تېروتنې څخه د خلاصون لپاره، د مارکسیستي زده کړو له بیلابېلو خواوو څخه ټوله ائیزه خبرتیا، یانې په فلسفې اقتصاد، علمي کمونیزم، د انقلابي خوځښت په تاریخ او د انقلابي گوند په تاکتیک او ستراتیژي پوهېدل خامخا اړین دي. که چیري په دې چاره کې کمزوري او تشه موجوده وي، همدا کیدلای شي د سهوې او تېروتني پیلامه وگرځي. ددې وړې رسالې موخه دا ده، چې په لنډ او کم ځای کې، د مهمو پورتنیو مباحثو په شاوخوا کې، مارکسیستي ـ لنینستي لیدلوری روښانه کړي.

دا به ډیره گټوره وي، چې نوي زده کونکي دا رساله څو ـ څو ځله ولولي او وروسته خپلې ستونزې د هغو کسانو سره شریکي کړي، چې کولای شي دا موضوعات ورته حل کړي. ددې جزوې لنډوالی د رسالې څو ـ څو ځلې لوستل شوني کړي دي، تر څو په مطالبو یې سم پوه شو او حافظې ته یې وسپارو.

که چیرې ددې رسالې ټول مطالب په دقت او ښه توګه سره درک او حافظې ته وسپارل شي، دا ډاډ ترلاسه کولای شو، چې لوستونکي د کارګري طبقې د نوي ډول ګوند په هکله لنډ او ټوله ائیز انځور ترلاسه کړی دی.

د نړۍ لید څخه خبرتیا د مبارزې لپاره لازم شرط دی، خو تراوسه لا یوازینی شرط نه دی. نه یوازې دا چې باید نړۍ لید په ښه شکل درک کړو او هغه د خپل تفکر په اسلوب باندې بدل کړو، بلکې کولای شو هغه په عمل کې په کار واچوو.

د مارکسیستي انقلابي زده کړو توپیر د نورو زده کړو سره په دې کې دی، چې دا د یو لړ ټوله ائیزو احکامو ټولګه ده، چې له ژوندانه څخه جلا نه دي، بلکې د ژوند د بدلون او خواریکښو په ګټه د نوې ټولنې د جوړښت لپاره د عمل لارښود دی.

دلته تیوري او پراتیک (عمل)، یو له بل سره دي. نو موږ مارکسیزم یوازې د زده کړې لپاره نه یادوو، بلکې زده کوو یې چې عملي یې هم کړو.

له هغه ځایه چې ددې رسالې اول او دوهم چاپ (۱۹۶۲ او ۱۹۶٦) په دې علت چې اړتیا ورته ډېره وه؛ ژر خلاص شول، د مبارزو ملګرو د یوې ډلې په غوښتنه، دریم چاپ یې د نویو زیاتونو او سمونو سره دادی د غوښتونکو په لاس کې دی.

احسان طبري

# مارکسیستي - لنینیستي نړۍ لید

نړۍ لید د طبیعت او ټولنې په هکله د یو شخص یا د وګړو د نظریاتو ټولګه ده. دا نړۍ لید کیدلای شي علمي او عقل پلوه وي، یا هم غیرعلمي او عقل غندونکی وي.

د غیر علمي نړۍ لید اساس په دګم (تحجر) او تعبد ولاړ وي. د علمي نړۍ لید بنسټ بیا په عقلي استدلال، تجربو، واقعیت او د انقلابي پراتیک په پایلو او علمي څېړنو باندې ولاړ دی.

مارکسیزم ـ لنینیزم د نړۍ او د ټولنې د تحول او حرکت په اړه علمي او د یو بل سره تړلو نظریاتو ټولګه ده، دا چې څرنګه د طبقاتي مبارزاتو په واسطه وکولای شو، ځبېښناک، د یو ډله اقلیت خلکو حاکمیت پر بله ډله خلګو او ملي ستم له منځه یوسو. دا یو عقل پاله (راسیونل) نړۍ لید دی او د انسان عقل د علمي، ټولنیزو تجربو او د شناخت د وسایلو له مخې ګڼي.

د مارکسیزم ـ لنینیزم بنسټیز اصول مارکس، انګلس او لنین ترتیب کړي. مارکس د دریو سرچینو څخه په ګټې اخیستني، یانې د انګلیسي اقتصاد پوهانو (لکه آدام سمت او ریکارډو) او د آلماني فیلسوفانو (لکه هګل او فویرباخ) او د فرانسې د تخیلي سوسیالیستانو (لکه سن سیمون او فوریه) له افکارو څخه خپل نظریات ترتیب کړي دي. البته چې د مارکس او انګلس نظریات یوازې د پورته ذکر شویو پوهانو د نظریاتو ټولګه نه ده، بلکې دا په خپله لوی او خپلواک علم دی، چې د بشر د فکر په طرز کې یې انقلاب رامنځته کړی دی، ډېر مبهم او نامالوم نکات یې روښانه کړي دي او خواریکښو ته یې له رڼا ډک څراغ په لاس ورکړی، چې د مبارزې لار ورته روښانه کړي.[1]

[1]- د پورته سرچینو ترڅنګ د مارکسیزم – لنینزم نوري سرچینې، په بیلابیلو علومو کي د خپل عصر لویې علمي لاسته راوړني هم وې. د بیلګې په ډول، د حجرې کشف، د انرژۍ د پایښت قانون پېژندل کېدل او د بیالوژیک تکامل نوي کشفیات.

مارکس او انګلس د انحصاري پانګوالۍ له دوران څخه وړاندې ژوند او فعالیت کړی او خپل نظریات یې په هغه وخت کې، چې د رقابتي پانګوالۍ مناسباتو د ودې دوران وو، وړاندې کړي. لنین د انحصاري پانګوالي په دوران کې ژوند او فعالیت کړی او مارکسیزم یې د پانګوالي په مفسد شوي دوران، یانې د جنګونو او انقلابونو په دوران منطبق کړ.

له لنین څخه وروسته، مارکسیزم د انقلابي مارکسیست ـ لنینیست ګوندونو په مرسته او په سر کې د شوروي اتحاد د کمونست ګوند له خوا خپور شو. په پراخ مقیاس کې پراټیک او په لوړ حد کې علمي څېړنو، په دې هیوادونو کې د کمونیست ګوندونو سره مرسته کړې، چې مارکسیزم په ورځنیو شرایطو تطبیق کړي او د سوسیالیستي ټولنې د جوړښت قوانین د هغه په لومړني او بشپړ شوي حالت کې کشف کړي، پانګوالي چې د پانګوالي انحصاري پړاو ته داخل شوې ده؛ تحلیل کړي او د ملي آزادي غوښتونکي خوځښت پراختیا او د پانګوالۍ عمومي بحران تر څېړنې لاندې ونیسي.

**د پانګوالۍ سفسطیان کوښښ کوي، چې د مارکس او انګلس او د مارکس، لنین او انګلس د پیروانو ترمنځ تناقض کشف کړي او ترمنځ یې درز رامنځته کړي، د(ویشونکي، حکومت کونکي) د حکم پر بنسټ مارکسیزم وویشي، د انقلابي ویاړ څخه یې رابښکته کړي او هغه په یو پوهنتوني بې آزاره علم او له عمله لرې په یو تجریدي بحث باندي بدل کړي.**

د پانګوالۍ سفسطیان کوښښ کوي، چې د پرولتاریا د مارکسیستي انقلابي نړۍ لید پلویان په بیلابېلو لارو ووېشي، بېکاره یې کړي او انحرافي مکتبونه (نیمه مارکسیست ډوله) تبلیغ کړي. زموږ په عصر کې ددې ټولو پدیدو په نسبت باید زیات هوښیار واوسو.[۲]

مارکسیزم ـ لنینیزم له دریو اصلي برخو څخه رامنځته شوی دی:

**فلسفه، اقتصاد او سوسیالیزم.**

---

[۲]- دلته د لیکوال موخه، د اروپا سوسیال ډموکراټان، د فرانکفورت د مکتب پلویان، نیو مارکسیستان، تروتسکیان او نوري ډلي دي.

مارکسیزم ـ لنینیزم له مارکس، انګلس او لنین څخه وروسته د نورو مارکسیست - لنینستو تیوریسنانو او کمونستو ګوندونو له خوا پراختیا موندلې او زموږ د وخت د شرایطو له مخې، چې د پانګوالۍ څخه د سوسیالیزم ته د اوښتون، د امپریالیستي مستعمراتو د زوال او د نړیوال سوسیالیزم د پیدایښت او پراختیا دوران دی؛ انطباق موندلی.

مارکسیزم ـ لنینیزم د ټولو انقلابي نوي ډول کارګري ګوندونو، چې له هغې ډلې یو زموږ ګوند دی؛ نړۍ لید دی. زموږ ګوند د علمي نړۍ لید پر بنسټ، ټولنیزي پیچلې پدیدې (ښکارندې) تحلیلوي، خپل ستراتیژي او تاکتیک پرې ترتیبوي او خپل لرې او نږدې شعارونه پرې روښانوي.

مارکسیزم ـ لنینیزم د ګټې اخیستني وړ وسله ده، که چیري په سمه توګه وکارول شي، کولای شي، چې د کارګرې طبقې د ګوند د بریالیتوب سبب شي. د مارکسیستي ـ لنینستي نړۍ لید د سم انطباق مسئله یو له مهمو او سختو مسایلو څخه ده.

هر انقلابي انسان باید مارکسیستي ـ لنینستي نړۍ لید په ښه ډول سره ولولي، هضم یې کړي او په ژوره توګه یې درک کړي.

که چیرې مارکسیسزم ـ لنینیزم په سمه توګه زده او هضم نه کړو او زموږ مالومات په دې برخه کې محدود او کتابي وي، موږ ته نه یوازي ګټه نه رسوي، بلکې زیانمن کېدلای هم شي. ددې علم زده کړه سخته نه ده، ځکه حقیقت دی او حقیقت همیشه ساده او روښانه وي.

# مارکسیستي فلسفه

مارکسیستي فلسفه د (ډیالکټیک ماتریالیزم) په نامه هم یادیږي او له درې اصلي برخو څخه جوړه شوي ده:

**۱.د ډیالکټیک اسلوب**

**۲.فلسفي ماتریالیزم**

**۳.تاریخي ماتریالیزم**

د دیالکتیک اسلوب (تګلاره، طریقه) موږ ته دا ښیي، چې طبیعت، ټولنه، تفکر او انساني عمل د کومو قوانینو له مخې په خوځښت او اوښتون کې دي. د دیالکټیک د اسلوب زده کړه د طبیعي، ټولنیزو او فکري پدیدو د سمې پېژندنې لپاره حتمي ده.

سمه ده چې که چیرې یو تجربه لرونکی سړی په خپله یو مطلب په ښه او دقیق ډول وڅېړي او غرض هم ونه لري، که له مطالعې پرته هم وي؛ دیالکتیکي فکر به کوي، خو په هر اړخ کې، د دیالکتیک د قوانینو زده کړه او ددې قوانینو څخه په آګاهانه ډول ګټه اخیستنه، په سم فکر کولو او د مسایلو په سم حل کې مرسته کوي او په پرېکړې او تفکر کې زموږ څخه سم څېړونکي جوړوي.

یو فیلسوف دیالکتیک د انقلاب د جبر علم نومولی، یانې دا چې یو انقلابي ددې لپاره چې وکولای شي د ټولنې د تکامل او د خوځښت (ګوند،غورځنګ) شرایط سم وشمېري؛ باید دا ریاضیات زده کړي. د دیالکتیک د اسلوب او منطق څخه سمه ګټه اخیستنه موږ ته ددې توان راکوي، چې د پدیدو، ژورو تمایلاتو او پټو پېښنو په ماهیت وپوهېږو. د دیالکتیک منطق، د دیالکتیک د عیني قوانینو ذهني انعکاس دی.

**دیالکتیک د څلورو عمده قوانینو لرونکی دی: د تړاو قانون، د حرکت او تغیر قانون، د تضاد قانون او د تکامل قانون.**

**د تړاو قانون**

ددې قانون مانا دا ده چې د ژوندیو موجوداتو او غیر ژوندیو موجوداتو نړۍ سرتر پایه یو له بل سره په تړاو کې دي او په یو بل باندې اغېزه اچوي. ټوله نړۍ، د مادې بیلابېل شکلونه دي، چې تغیر او تکامل کوي. که په نړۍ کې تنوع (بیلابیلوالی) گورو، که د جامداتو، نباتاتو، حیواناتو او انسانانو بیلابیل کیفیتونه گورو، ټول د مادې د جوړښت او پېچلتیا محصول دي. دا تنوع ددې دلیل نه دی، چې نړۍ د هغه شیانو څخه جوړه شوې، چې له یو بل سره اړیکه نه لري. پخوا داسې باور موجود وو، چې جسم او اروا (روان) دوه جلا جوهرونه دي، چې یو له بله توپیر لري. نن ورځ په دې پوهیږو، چې فکر او اروا د مادې ځانگړنې دي، چې ډېر پیچلی جوړښت لري، له مادې څخه جلا بل څه نه دي او د مادې د تکامل پایله ده. د شیانو، پدیدو او انواعو تر منځ ظاهري او باطني اړیکه چې د شیانو او پدیدو د عمل څرنگوالی راښیي؛ قانون نومیږي. د طبیعت او ټولنې ټولې اجزاوې د کُلي او جزئي او عامو او خاصو قوانینو لرونکي دي، چې د هغو د پېژندلو په مرسته کولای شو، د هغو پدیدو اجزاوې او یا هغه پدیدې وپیژنو او د هغو کړنه او عمل هم وپیژنو او په اړه یې وړاندوینه وکړو. د پیوند قانون موږ ته راښیي، چې زموږ نړۍ په خپله یو تړلی سیستم دی، چې د کوچنیو سیستمونو (سب سیستم) څخه جوړه شوې ده. د بېلگې په ډول، که د انسان بدن د یو لوی سیستم په توگه په نظر کې ونیسو، غړي یې لکه ماغزه، زړه، معده، پښتورگي، سترگې او نور...) فرعي یا سب سیستم دي او هر سیستم په خپل وار سره له کوچنیو سیستمونو جوړ دی.

د تړاو د قانون سره سم، هر سیستم د جوړښت (ستړکچر) لرونکی دی. جوړښت، یانې دا چې سیستم د اجزاوو او شیانو ناتړلې ټولگه نه ده. که چېري وغواړو، هغوی ته له یو بل

سره تړاو ورکړو، د داخلي نظم او جوړښت لرونکی کیږي. د بېلګي په ډول، که د ساعت پرزې خلاصې کړو او هغه یو له بل سره کېږدو، دا نو نور یو سیستم نه دی، مګر که چیرته هغه بیرته سره یو ځای کړو، ټولې اجزاوې (برخې)، ډنډه، څرخ، عقربه، د پاڼې زنګ او نور...یو له بل سره تړلي دي او یو له بل سره کار کوي. ټولنه هم یو سیستم او د جوړښت لرونکې ده او په هغه کې مادي او مانوي، اقتصادي او سیاسي مسایل یو له بل سره تړلې دي. ټولنه هم لوی سیستم دی، چې له کوچنیو سیستمونو څخه جوړه شوې، لکه طبقات (پوړونه) قشرونه، بنسټونه او نور...

## د خوځښت او تغیر (بدلون) قانون

دا چې نړۍ یو له بل سره تړلې او د یو سیستم په شان ده؛ د خوځښت او بدلون په حال کې هم ده. سکون او نه بدلون ظاهراً او ابداً وجود نه لري؛ هر څه نسبي او تیریدونکي دي. حرکت بیا په میکانیکي حرکت (په مکان کې لیږدېدونکی)، فزیکي حرکت، کیمیاوي حرکت، بیولوژیکي حرکت، ټولنیز حرکت (لکه انقلاب) فکري او یا منطقي حرکت (له جهالت څخه د معرفت پر لور حرکت) باندې ویشل کیږي.

که موږ په شیانو او پدیدو کې حرکت ونه وینو او هغه د یو ثابت څیز په توګه وګڼو؛ نه د داسې یو بهیر په ډول، چې د دوامداره بدلون په حال کې دی، په دې وخت کې موږ جامد (میتافیزیکي) فکر کړی. میتافیزیکي تفکر، یانې د شیانو او پدیدو د حالت او پروسه والي نه لیدل، موږ په فکر کې ناسمي پایلې ته رسوي. د بېلګي په ډول، د ټولني وضیعت په دوامداره بدلون کې دی، نو انسان باید تل هغه تحلیل کړي، له نوي څخه یې وپیژني او په خپل تاکتیک او د عمل په شعارونو کې، ددې نوي پېژندني سره سم، لازم بدلونونه راولي.

البته دا تغیر، چې په هغه نوي حالت کې رامنځته کیږي او زوړ حالت له منځه ځي (نفي کیږي) هر مهال په دې مانا نه ده، چې له تیر څخه څه نه پاتې کیږي او هر څه د یو مطلق جریان په حالت کې دي. نړۍ د ثبات او تغیر دیالکتیکي ټولګه ده او وروسته د تیر حالت

د نفي، تل له هغه څخه نوي شيان پاتې کيږي: يوازې هغه څېزونه پاتې کيږي، نو خپل پخوانی رول نه لري او په نوي حالت او کيفيت کي نوی رول تر سره کوي.

البته تغير د پديدو په محتوا او مضمون، ماهيت او جوهر کې رامنځته کېږي، خو د شيانو ظاهري شکل او پديده هم ورسره بدليږي. د شکل او مضمون ترمنځ حتميت شته. البته کله هم داسې کيدای شي، چې زوړ شکل نوی مضمون خپل کړي، د بېلګي په ډول، څرنګه چې پيسې، سود، بانک او نور زاړه شکلونه دي، په سوسياليستي ټولنه کې نوی مضمون لري؛ خو ډېر مهال نوي مضمونونه بيا نوي شکلونه رامنځته کوي يا دا چې د زړو پديدو د چارو ډول بدلوي.

**د تضاد قانون**

کله چې نړۍ د يو بل سره د دايمي بدلون په حال کي تړلی سيستم دی؛ اوس ښايي، دا پوښتنه رامخته شي: ولي بدلون کوي؟

**پخوا چې ددې پوښتني په علمي ځواب خلګ نه پوهېدل، نو دا فکر به يې کوئ، چې حتمن لومړی محرک شتون لري، چې حرکت يې شروع کړی، خو دا سوال رامخته کيږي، چې هغه لوی محرک چا په حرکت راوستی؟ ويل کيدل که دا ډول پوښتنه وشي، تسلسل لازمېږي او تسلسل باطل دی، خو دا ځواب لفظي دی او پوښتنه نه شي حل کولای، نه هم قانع کونکی ځواب دی. ديالکتيک وايي تغير او حرکت په خپله د مادې له ذاته دی. يا په بل عبارت، خوځښت خپل سری دی، يا په شاعرانه انداز، د خوځښت غوړ په خپله د شيانو او پديدو په داخل کې سوځي او بهرنی لاس هغه نه ښوروي. حرکت په فلسفي مانا، يانې په يو څه شروع کيږي او په بل څه ختميږي. هغه څه چې حرکت په کې پيل کيږي يووالی نه، دوه ګوني والی دی او اختلاف او تضاد پکښې څرګند کېږي. په ټولو شيانو او پديدو کې تل يو څه د**

**رامنځته کېدو او ودې په حالت کې وي او بل څه د زوال په حالت کې. تحجر او بهير، زوړ او نوی، تېر او راتلونکی، په خپلو کې په مبارزه کې دي. همدا مبارزه ده، چې تغير او حرکت رامنځته کوي.[۳]**

په دې مقابله او جګړه کې چې څه رامنځته کيږي او څه له منځه ځي، زموږ لوی شاعر مولانا هغه ته (تنافي) وايي؛ هماغه تضاد دی. د ټولنې او طبيعت هره پديده، چې ورته ځير شو دا جګړه د تازه او مړاوي، نوي او زوړ او د نوي او زوړ د کيفيت ترمنځ ګورو.

هغه تضادونه چې په شيانو او پديدو کې ښکاره کيږي، په دوه ډوله دي: پخلا کېدونکي او نه پخلا کېدونکي. د نه پخلا کيدونکي تضاد حل د يو لوري بريا ده، پر بل لوري باندي، خو پخلا کېدونکی تضاد کيدای شي، د جوړجاړي له لارې حل شي. نه پخلا کېدونکی تضاد يوازي ټولنې ته ځانګړی دی، لکه د پانګوالي او پرولتاريا تضاد.

**د تکامل قانون**

ددې قانون مانا دا ده، چې حرکت او تغير چې د شيانو او پديدو د داخلي تضاد په پايله کې رامنځته کيږي، د پخواني وضيعت تکرار نه دی، بلکې په خپل وار سره بشپړ، پېچلی او نوی وضيعت رامنځته کوي. ماده له ساده څخه د پيچلي او د ښکته څخه پورته، پر لور په حرکت ده. له بې ژونده موجوداتو څخه ژوندي، له حيوان څخه انسان او د لومړنيو انسانانو څخه ننني انساني ټولنه رامنځته شوې ده. په لومړيو کې بدلونونه نامالوم، نه مشاهده کيدونکي، پړاويز (تدريجي) او په کميت کې وي. کله چې بدلونونه زياتيږي او کمي بدلونونه خپل ټاکلي حد ته رسي؛ يو ټوپ (جهش) رامنځته کيږي او په کيفيت کې چټک بدلون راځي، يانې اوښتون په يو ځلي (چټک) انقلابي ډول رامنځته کيږي او نوی کيفيت منځته راځي. زوړ کيفيت، پخوانی حالت، په دې ډول له منځه ځي (منتفي) کيږي او نوی

---

[۳]- په ساينس کي دا مسئله د انرژۍ د پايښت قانون تشريح کوي.

او بشپړ حالت يې ځاى نيسي، خو دا نوى حالت او كيفيت هم داسې وخت راځي چې له منځه ځي (منتفى) كيږي. دا بهير د (نفي نفي) په نامه ياديږي.د همدې نفي نفي له لارې ده چې ماده خپله د بشپړتيا (تكامل) لاره د لوړوالي پر لور وهي.

ټوپ او يو ناڅاپي په نوي كيفيت باندي د زاړه كيفيت اوښتل، كله د چاودنې په شكل وي او دا پديده په تاريخ كې د ټولنيز اوښتون (انقلاب) په شكل رامنځته كيږي. بورژوا ټولنپوهان ټولنيز انقلاب يو (پر ټولنه باندي د لړه كيو د ناقانونه تيلو) ښودلو كوښښ كوي، غواړي چې د انقلاب د ضرورت او قانونيت څخه په تاريخ كې منكر شي، خو د تاريخ حركت د بوژوازي د حقوقو په تنګو كوڅو كې نه دى، بلكې د خپل د ماهيت سره سم، د ديالكتيك د قوانينو موافق ترسره كيږي.

فلسفي ماترياليزم دا رازده كوي، چې نړۍ مادي ده او هيڅ واحد هغه نه دى پيدا كړى او تل په تير او راتلونكي كې به هم وي، ځكه علمي تجربو ښودلې ده، چې هيڅ څه هم له عدم (هيڅ) څخه نه دي رامنځته شوي او داسې موجود هم نشته چې په مطلق عدم بدل شي. ماده څه ده؟ د مادې فلسفي تعريف، چې لنين بيان كړى دى، داسې دى:

**«ماده هغه واقيعت دى، چې زموږ پر وړاندې، زموږ له فكر او شعور څخه جلا شتون لري، خو موږ هغه په خپلو حواسو درک كوو. فلسفه هيڅكله هم دا دنده نه لري، چې ووايي ماده له څه څخه جوړه شوې ده. دا علم دى، چې د مادې جوړښت په تدريجي ډول** (سلول، ماليكول، اتوم او د اتوم په داخل كې لومړني ذرات، انرژي، ميدانونه او نور...) **كشفوي او ورځ تر بلې د مادې په اړه زموږ تصور غني كوي.»**

شعور چې په نيمګړي (ناقص) ډول په حيوان كې او په بشپړ او تكامل موندلي بڼه په متمدن انسان كې شتون لري؛ د مادې د ډير اوږد تكامل پايله ده او د يوې پيچلې او متشكلې مادې ځانګړنه ده، چې ماغزه نوميږي.

څرنګه چې په دې پوهیدل، چې انسان څه ډول فعالیت، خبرې او فکر کوي، څه ډول خوب ویني، شیان او پدیدې پیژني، علمي او هنري آثار رامنځته کوي، یا د راتلونکي ژوند په اړه وړاندوینه کوي؛ په پخوا وخت کې انسان ته ستونزمن ول نو داسي تصور یې کوئ، چې شعور د روح خاصیت دی او روح آسماني او غیبي څیز دی، خو نن ورځ علم دا واضح کړې، چې څه ډول د انسان د مغز سلولونه (چې نیورون نومیږي) د بهرني واقعیت انځورونه د کیمیاوي فعالاتو او انفعالاتو په مرسته منعکس او ثبت کوي او څرنګه دا انځورونه تجزیه او ترکیبوي. بشر ددې قوانینو په کشف سره، نن ورځ په خپله منطقي او متفکر ماشینونه جوړوي. همدا بریاوې دا راښیي، چې د ماغزو او اروا څخه د بشر پیژندنه سم دي.

نو لومړی بې ژونده ماده وه او وروسته ژوندۍ ماده رامنځته شول؛ لومړی بې شعوره ماده وه او وروسته شعور لرونکې ماده رامنځته شول.

نو ماده پر شعور لومړنۍ ده.

هغوی چې ماده پر شعور لومړۍ ګڼي، ماتریالیست (ماده پال) نومیږي.

هغوی چې شعور په ماده لومړۍ ګڼي آیده الیست (ذهن پاله) نومیږي.

آیده الیزم غلط دی او نني علم په مطلق ډول رد کړی دی.

بل ټکی، چې فلسفي ماتریالیزم یې راښیي دا دی، چې ماده تل د زمان (وخت)، مکان(ځای) او حرکت لرونکې ده. حرکت پرته له مادې او ماده پرته له حرکته شتون نه لري او حرکت د مادې ځانګړتیا ده. ماده پرته له زمان او مکان او زمان او مکان پرته له مادې شتون نه لري. زمان او مکان د مادې د شتون شکلونه دي.

## تیوري او پراتیک

د انسان شناخت له نړۍ څخه د کار، کوښښ او پراتیک په بهیر کې رامنځته کیږي: له پراتیک یا عمل څخه تیوري رامنځته کیږي. په خپل وار سره، علم یا تیوري، عمل یا پراتیک ته لارښونه کوي؛ علم او عمل یا تیوري او پراتیک یو له بل سره نه شلیدونکي اړیکه لري او دا له هغو اړینو مسایلو څخه دي، چې باید یو له بل سره تړلي په نظر کې ونیول شي.

پراتیک یا انساني عمل دري مهم او بنسټیز شکلونه لري:

**۱. تولیدي محصولات که هغه صنعتي، کرنیز او یا مسلکي وي.**

**۲. علمي تجربه او څیړنه.**

**۳. طبقاتي مبارزې.**

تیوري هم درې مهم او بنسټیز شکلونه لري:

**۱. ټولنیز او طبیعي علوم.**

**۲. سیاسي او ټولنیزي ایډیولوژیانې، چې د سیاسي او ټولنیزو مسایلو په هکله د یوې یا څو طبقو عقاید او نظریات دي. (کولای شو ایډیولوژي تقریباً په مرام یا مسلک هم ترجمه کړو).**

**۳. نړۍ لید، چې په تیرو درسونو کې مو یې تعریف ذکر کړی دی.**

**انقلابي غورځنګ نه شي کولای، چې پرته له انقلابي تیورۍ څخه خپله لاره ومومي.**

**وایي، انقلابي ګوند بېړۍ ده او انقلابي تیوري قطب نما ده؛ قطب نما پرته له بېړۍ زنګ وهي او بېړۍ پرته له قطب نما لارورکې کیږي.**

ټولنیزو او طبیعي علومو نن ورځ ستر اهمیت خپل کړی. طبیعي علوم زموږ په دوران کې د تولیدي ځواکونو شکل ځانته اخیستی دی او د ټولنیز حرکت عمده محرکین دي. یانې نن ورځ نور د تولیدي ځواکونو وده پرته د علومو له مستقیمې لاربښونې، پېژندني او رهبرۍ څخه شوني نه دي. نن ورځ علمي تجربې هم په ډېري چټکتیا سره صنعتي او ټولنیزي شوي دي او نور د یوازیتوب په نړۍ کي کار نه شي کولای.

موږ د علمي او فني انقلاب په عصر کې ژوند کوو، چې د انرژۍ نوي سرچینې لکه هستوي انرژي، اټومي انرژي، د لمر انرژي، د ځمکې د داخلي حرکت انرژي، د دریابونو د جذر او مد انرژي او نورو ته لاسرسی لرو او نوي مواد د کیمیاوي پلاسټیک (پولیمر یا بس پار) او نور چې د زیاتو ځانګړنو لرونکي دي؛ په واک کې لرو. ددې نوي کیمیاوي موادو او د انرژۍ د نویو سرچینو سره، موږ بریالي شوي یو، چې د تکنیک نوي څانګې رامنځته کړو، لکه د الکترونیک تکنیک، د مزایلو او نور... د تولید وسایل په خپله اتومات کیږي.د اړیکو وسایل لکه راډیو، ټلویزیون، هوایي او ځمکني د اړیکو وسایل او نور پراختیا مومي. بشر فضا ته لاره پیدا کوي، وسلو هم بدلون کړی د دفاع له وسیلې څخه د ټولنیزې له منځه وړني په وسیلې اوښتي دي. نو نه شو کولای، دا کومې ژوري اغیزې، چې د علمي او فني انقلاب دور رامنځته کړي؛ له هغو څخه سترګي پټې کړو. سوسیالیزم د علم له لاسته راوړنو څخه په ګټې اخیستني سره، ډیر ژر د اقتصاد په برخه کې بریالی کیږي. پانګوالي (یانې د تولید پر وسایلو د پانګوالانو خصوصي مالکیت) چې د خپل ځان د ګټو پرته نور څه په رسمیت نه پیژني، په دې عصر کې ډیر ژر د تاریخ له صحنې څخه شړل کیږي. د بېلګي په ډول، عمومي ماشیني کیدل د پانګوالي طبقاتي ټولنې په شرایطو کې کولای شي د بې روزګارۍ ناورین زیات کړي.

نن ورځ باید انقلابي نسل د علمي او فني انقلاب اهمیت ته متوجه شي، چې دا ستره پدیده په نړیواله سطحه د کارګري طبقې د ګوند په تاکتیک او ستراتیژۍ او په نړیواله سطحه او هر یو هیواد کې په ځانګړي ډول تاثیر اچونکې ده او نه شو کولای، چې سترګې ترې پټې

کړو. د علمي او فني انقلاب په دې عصر کې، ایران په استبدادي سلطنتي رژیم سره نه شي کولای، چې په سطحي سمونونو ځان نړیوالي کچې ته ورسوي او ورسته پاتې والی یې لا زیاتیږي. په همدې دلیل، په دې پیر کي د یو خلقي رژیم، چې په علمي تیورئ سمبال وي اړتیا خورا زیاته محسوسیږي.

## د شناخت تیوري

انساني شعور د انسان په مغز کې د بهرنئ نړئ د انعکاس پایله ده. انسان، د شعور په مرسته، بهرنئ نړئ پیژني. د بهرنئ نړئ د شناخت لپاره، انساني شعور په دوو پړاوونو کې عمل کوي: لومړی حسي پړاو دی، دوهم عقلي پړاو. په حسي پړاو کې، انسان په خپلو حواسو سره بهرنئ نړئ درک کوي (احساس، ادراک، تصور).

په عقلي مرحله کې، انسان هغه څه چې درک کړي په مفاهیمو یې بدلوي او ددې مفاهمو له جمعي او منفي څخه، منطقي احکام جوړوي او منطقي استنتاج ورڅخه را باسي. (مفهوم، احکام، استنتاج).

ټولنیز خوځښتونه هم له حسي او عقلي پړاوونو څخه تیریږي. په حسي مرحله کې، عواطف او احساسات د خوځښت په مبارزانو باندي برلاسي وي او د واقعیت درک د احساساتي اړخونو لرونکي وي. په عقلي پړاو کې، خوځښتونه هڅه کوي، ترڅو د ټولنې او خوځښت پورې تړلي قوانین په ژوره توگه درک او مبارزه په سمه او رښتینې لار پرمخ یوسي.

**زموږ د هیواد ژغورونکي او انقلابي خوځښت مودې کیږي، چې احساساتي پړاو یې تیر کړی، زیاتي تجربې لري، خپله ټولنه یې سمه پیژندلې ده او کولای شي خپل عمل له تیورئ (چې د خپل هیواد پر شرایطو هماغه د مارکسیزم ـ لنینیزم انطباق دی) سره همغږي کړي.**

د شناخت د تیورۍ یو له مهمو ټکو څخه د حقیقت مسئله ده. حقیقت څه دی؟ حقیقت یانې زموږ په ذهن کې د واقعیت دقیق او موثق انعکاس. له هغه ځایه چې حقیقت فوق العاده پیچلی او په زمان او مکان کې دی؛ د یو فرد ذهن په دې نه شي توانیدلی، چې په محدود وخت کې هغه ټول احاطه کړي؛ نو بشر د تاریخ په اوږدو کې په تدریجي ډول کوښښ کوي، چې دا واقعیت وپیژني. د خپل شناخت د فعالیت له پړاوونو څخه، انسان له هغه واقیعت څخه موډل جوړوي چې په هغه سره واقعیت منعکس کیږي، خو عین (بالکل) هغه واقعیت نه دی.

**هر څومره چې انسان له واقعیت او د هغه د ماهیت په پوهېدني کې دقیق کیږي، هماغومره خپل موډل بشپړوي. نو هغه حقایق چې انسان ورته په یو دوران کې لاسرسی موندلی تغیر مننونکي دي، حقیقت نسبي دی، مطلق نه دی، خو داسي هم نه شو انګېرلای، چې په دې نسبي حقایقو کې د مطلق حقیقت ونډه نه شته، یانې هغه حقایق چې د وخت په اوږدو کې بدلون کوي، نه شته.**

حقیقت ته د لاسرسي موندلو له اړینو شرایطو څخه یو هم عیني تفکر دی، یانې د خپل غرض او ځاني فرضیو څخه پرته د واقعیت دقیقه څیړنه. هغه کسان چې ذهني فکر کوي، یانې غواړي چې خپله غوښتنه اوغرض په واقعیت باندې وتپي، په دې نه توانیږي، چې واقعیتونه څرنګه چې دي؛ هماغسې درک کړي.

په علمي څیړنو کې هم هڅه کیږي، تر څو د تر سره کیدونکو علمي تجربو پر مهال د مشاهدې او د اندازه نیونې د اوزارو اغېزه کمه شي، او داسې خالصه تجربه ترسره شي چې د تجربې د اوزارو لخوا اغیزمن شوې نه وي، تر څو حقیقت څنګه چې دی؛ هماغه ډول درک شي. دا چاره به د اګنوستیکیانو دا نظریات رد کړي، چې وایي: موږ هیڅکله هم نه توانیږو چې د شیانو په ماهیت پوه شو، ځکه زموږ وجود، زموږ عقل او حواس، زموږ د تجربو اوزار، زموږ او د واقعیت ترمنځ دیوال دي.

## د تاریخي ماتریالیزم په اړه څو ټکي

که موږ د ډیالکټیک قوانینو ته په ټولنه کې انطباق ورکړو او ددې لید لوري له نظر څخه د بشر د تاریخ او د انساني ټولنې ښکارندې (پدیدې) وڅیړو، یوه ځانګړې ټولنیزه فلسفه ترلاسه کوو، چې ورته تاریخي ماتریالیزم وایو.

**تاریخي ماتریالیزم په واقعیت کې پر مارکسیستي ټولنپوهنې فلسفي تداخل دی.**

دا ټولنپوهنه تر ټولو پوره او دقیقه ټولنپوهنه ده.

پانګوال ددې لیوالتیا نه لري، چې د ټولنیزو پدیدو ماهیت څه ډول چې دی په هماغه شان ښکاره شي. نو په پانګوالي هیوادونو کې، ټولنپوهنه په محدودو تجربي څیړنو اکتفا کوي، د تاریخ د حرکت قوانین بهر نه راباسي او یوازې جلا فاکتورونه څیړي.

بورژوا ټولنپوهان ډېره لېوالتیا لري، چې د انساني ژوند او اروا ټولې تاریخي پدیدې د شهرت، واک غوښتنې، ځانغوښتنې او ددې په څېر د نورو...پایله وګڼي. په دې کې شک نه شته، چې انسان د رواني (روحي) ځانګړتیاوو لرونکی دی، خو دا روحي ځانګړنې د تاریخ په اوږدو کې په مختلفو شکلونو ښکاره شوي دي، نو نه شو کولای چې دومره زیات، مسلسل او ډول ـ ډول اوښتونونه د څو ثابتو روحي ځانګړتیاوو په مرسته توضیح کړو. ټولنه د انسان له مغز څخه پېچلی نسج دی، ځکه د وګړو ټولګه ده، چې هر یو یې خپله شعور لرونکي موجودات دي. دا نسج د تکامل او اوښتون په بهیر کې دی، نو هغه (ټولنه) باید په خپله د ټولنې د تکامل د ځانګړو قوانینو سره وپېژنو. تر هغو پورې چې موږ انساني ټولنه له پیدایښت څخه تر نن ورځې پورې، د وهم او فرضیې پر ځای، د علمي فاکټونو پر اساس ونه څېړو؛ شونې نه ده، چې د مادي او مانوي اوښتون قوانین او ددې دوو اوښتونونو تړاوونه له یو بل سره ومومو.

**مارکس او لنین لومړني پوهان دي، چې دې حيرانونکي دندې ته رامخته شوي دي، خو هغوی په زماني او مکاني لحاظ محدود ول او نه يې شوای کولای، چې په دې اړه ټول بحثونه روښانه کړي.**

مارکسیستي ټولنپوهنې په دې وروستيو يونيم سل کالو کې پراختيا موندلې، سلګونه کتابونه پرې ليکل شوي او په سوسياليستي ټولنو کې د چارو زرګونه پوهان موجود دي. دا چې ټولنيز نسج ډير پيچلی دی، نو د هغو کسانو ته چې پر ټولنيزو مقولاتو باندې دوکې ورکولو او د سفسطوي موډلونو په وړاندې کولو کې برلاسي دي؛ د خلګو تېر ايستل هم آسانه کار دی. امپرياليزم په وروستيو وختونو کې کوښښ کوي، چې د مارکسيستي تورو او اصطلاحاتو د کارولو سره، غولونکي مکتبونه رامنځته کړي، چې ګواکي هغوی د مارکس او انګلس تکميلونکي دي، خو په واقعيت کې يې موخه ددې مکتب انقلابي ماهيت له منځه وړل دي. **ددې برعکس، تاريخي ماترياليزم ددې سره لېوالتيا لري، چې ټولنيز قوانين کشف کړي او انقلابي طبقات په دې شناخت (معرفت) باندې سمبال کړي، تر څو هغوی د تاريخ په خپل سري حرکت باندې غلبه وکړي او انقلابي فن ترلاسه کړي او د نوې ټولنې بنسټ کېښږدي.** د تاريخي ماترياليزم سره سم، د بشري ټولنې سيستم له دوو عمده او بنسټيزو برخو څخه رامنځته شوی دی:

**۱.د ټولنې مادي هستي**

**۲.د ټولنې شعور**

د ټولنې مادي هستي د هغه ټولنې د اقتصادي جوړښت او له توليدي ځواکونو څخه تشکيل شوي دي.

مولده ځواکونه د توليدونکي انسان د کار وسايلو (ماشينونه او د توليد وسايل) او د توليد له مناسباتو يانې مالکيت له مناسباتو څخه عبارت دي، يانې څوک د توليدي وسايلو يا

ماشینونو خاوندان دي او د ټولنې د افرادو ترمنځ د تولید په جریان کې څه ډول اړیکې شته؛ د استثمار او څېبښاک اړیکه ده، یا د همکارۍ او مرستې؟

د ټولنې مانوي ژوند د ټولنې د شعور ټولي برخې په ځان کې رانغاړي، چې د ټولنې د مخبنا (روبنا) برخه ده، یانې د ټولنې د شعور هغه برخه چې د ټولنې د مادي بنسټ په بدلون سره (چې زیربنا نومیږي) بدلون کوي. نو باید پام مو وي، چې (ټولنیز شعور) یا د (مانوي ژوند) مفهوم د (روبنا) له مفهوم څخه چې یوازې د ټولنیز شعور ځینې برخې په ځان کې رانغاړي (لکه فلسفه، مذهب، حقوق، سیاست، اخلاق) پراخ دی.

په دې ترتیب سره نو نه شو کولای، چې علم روبنا وشمېرو، سره له دې چې د ټولنیز شعور له ډولونو څخه دی، خو لکه څرنگه مو چې وویل زموږ په عصر کې د ټولنې زیربنایې جوړښت ته داخل شوی دی. یا نه شو کولای، چې ژبه او فرهنگ په روبنا کې شامل کړو، څرنگه چې ځیني خلگ دا تېروتني کوي.

نو د ټولنې روبنا یانې هغه روحیات، افکار او عقاید، چې طبقاتي جنبه لري. د زیربنا د بدلون سره یانې د ټولنیزې هستې، د وسایلو د اوښتون، د ماشینونو د اوښتون، د تولید او د مالکیت د مناسباتو د اوښتون او په لنډ ډول د ټولني د اقتصادي ژوند د بدلون سره؛ روبنا هم بدلون کوي: د ټولنې په روحیاتو، افکارو، عقایدو او نظریاتو کې بدلون راځي. اقتصادي عامل د تاریخ د لوري په بدلون کې ټاکونکی رول لري، خو مارکسیزم یوازې د روبنا په بدلون کې د زیربنا اغیزې ته متوجه نه دی. که چیري مارکسیزم یوازې د روبنا په بدلون کې د زیربنا رول ته متوجه وای؛ نو له لویې تېروتنې سره مخ کیدی. د مارکسیزم دوښمنان دا علمي مکتب په دې تورنوي او وایي، چې مارکسیزم د اقتصادي عواملو رول د تاریخ په تګلوري کې مطلق کړی دی او هر څه غواړي، چې د اقتصادي عواملو له مخې توضیح کړي. دا غلط تور د غرض یا د مارکسیزم څخه د ناسمي اخیستني پایله ده.

د مارکسیستي لیدلوري له اړخه، د ټولنې روبنا، یانې مذهب، حقوق، سیاست، فلسفه، رواجونه او آداب، ټولنیز روحیات او نور هم په خپل وار سره په زیربنا باندې اغیزه

اچونکي دي او د هغه حرکت چټک یا کراروي. نو روبنا او زیر بنا په یو بل باندې تاثیر اچونکي دي، خو ټاکونکی رول د زیربنا دی.

له پخوا څخه، د ټولنې روبنا په خپله یو خپلواکه حرکت هم لري، ځکه د افکارو، عقایدو، روحیاتو، آدابو او رواجونو پخواني جوړښتونه، خپله په نوي عقایدو، رواجونو، روحیاتو او آدابو بدلیږي، پرته له دې چې د ټولنې په زیربنا کې کوم مهم بدلونونه رامنځته شوي وي.

**که چیرې موږ پر یو بل باندي، د زیربنا او روبنا پیچلي اغیزه او دا د روبنا نسبتاً خپلواکه بدلون په ښه شان سره درک کړو؛ نو د مارکسیزم ټولنیزه فلسفه مو زده کړې ده او د اکانومیزم یا د اقتصادي عامل د مطلق کولو سره نه یو مخ شوي؛ که مو نه وي زده کړي، نو د مارکسیزم د ټولنیزي فلسفې مهم ټکي هم دلته دي.**

البته د زیربنا او د روبنا له عواملو څخه ماسېوا، نور عوامل د ټولنې په تکامل کې هم اغیزناک دي، لکه: جغرافیوي چاپیریال، د افرادو او اتلانو رول د تاریخ په اوښتون کې، یا په یو ټاکلي وخت کي، د یوه ډله خلکو روحي ځانګړتیاوي او نور...

یوه غلطه تیوري شته، چې د (عواملو تیوري) یا د فاکټورونو تیوري ورته وایي او د تاریخ په اوښتون کې د بنسټیز عامل ټاکنه اړینه نه بولي؛ ټول عوامل په یو ډول نه یو ډول اړین دي او باید هغه ټول په نظر کې ونیسو.

مارکسیزم د مختلفو عواملو د اغیزې څخه منکر نه دی، خو دې پایلي ته رسېدلی دی، چې دا عامل یوازي د ټولنې د حرکت په کرارولو او چټکولو او د پیښو په ښکاره کیدو کې اغېزمن دی. د ټولني د تاریخ بنسټیزه محتوا، د ټولني اقتصادي ژوند او روبنا، چې له هغه څخه رامنځته کیږي؛ ټاکي. ددې محتوا اوښتون، یوازي او یوازي ټولنیز او عیني عامل دی او طبیعي او بیولوژیکي عامل نه دی او ذهني عامل (لکه د افکارو،او د قهرمانانو رول) هم نه دی. د ټولنې د مادي ژوند اوښتون (مولده ځواکونه او تولیدي مناسبات) د ټولنې بنسټیزه انګیزه ده. له همدې اړخه، مارکسیزم وایي: د ټولنې مادي هستي ده، چې د ټولنې مانوي

ژوند ټاکي، نه برعکس. څرنګه چې مانوي ژوند په خپل وار هم په مادي هستۍ، یانې په اقتصادي ژوند او هغه ټولنیزي ځانګړتیاوې، چې له مخې یې رامنځته شوي دي؛ اغیزه پرې لري.

ددې لپاره چې مولده ځواک پرته له کوم خنډ څخه په آزادانه ډول وده وکړي، باید تولیدي مناسبات (یانې د مالکیت مناسبات یا د ټولنې د افرادو ترمنځ اقتصادي مناسبات) په داسې ډول وي، چې دې ودي ته زمینه برابره کړي. په دې حالت کې وایي، د مولده ځواکونو او د تولیدي مناسباتو ترمنځ جوړجاړی شته.

خو داسي وخت رارسیږي، چې د مولده ځواکونو وده د موجوده تولیدي مناسباتو ترمنځ نه ځایېږي او دا د تولید مناسبات، یا د مالکیت دا شکل او دا اقتصادي مناسبات د ټولنې د وګړو ترمنځ، د مولده ځواکونو د ودي خنډ ګرځي. له دې ځایه د مولده ځواکونو او د تولید د مناسباتو ترمنځ شخړه پیلیږي. دا دوران، د ټولنیز انقلاب دوران دی، یانې ټولنه مجبوره ده، چې خپل زوړ سازمان، مقررات او نظم بدل کړي، نوی سازمان، مقررات او نظامونه ومني او داسي وضیعت رامنځته کړي، چې د مولده ځواکونو له ودي سره موافق وي. ټولنه مجبوره ده، چې د مالکیت زوړ شکل واړوي او د مالکیت نوی شکل یې ځای ناستی شي. په همدې سبب، د غلامۍ مالکیت خپل ځای د فیوډالانو مالکیت ته پریښود. د فیوډالانو مالکیت خپل ځای پانګوالانو ته وسپاره. د پانګوالۍ د زوال سره د خصوصي مالکیت دوران اصولاً پای ته رسیږي، ځکه تولید زموږ په دوران کې په ډېري چټکۍ سره د ټولنیز کېدو خواته روان دی او دا د تولید ټولنیز کېدل د پانګوالانو په خصوصي شتمنۍ کې نه ځایېږي؛ نو باید ټولنیز یا سوسیالیستي مالکیت رامنځته شي او مولده ځواکونه پرته له کوم خنډ څخه وده وکړي.

دا بهیر د مولده ځواکونو او د تولیدي مناسباتو ترمنځ د اړین جوړجاړي د قانون په نامه یادیږي. نن ورځ ځینې پانګوال ټولنپوهان هم، که په نیمګړي او نه څېرل شوي ډول هم

وي؛ د توليدي مناسباتو او د مولده ځواکونو ترمنځ د اړين والي د قانون په سم والي باندې اعتراف کوي.

مارکسيزم ددې قانون پر اساس، د ټولنيز انقلاب خامخاوالی ثابتوي.

نو انقلاب د ټولنې د تکامل حتمي پديده ده او د يو چا غوښتنه يا د اخلالونکي روحيې پايله نه ده، په هغه ډول چې د انقلاب ضد ډلې غواړي ويې ښيي.

بايد پام مو وي، چې د توليدي مناسباتو او د مولده ځواکونو نه جوړجاړی، يوازې او يوازې، د انقلاب لپاره زمينه برابروي او ددې لپاره چې انقلاب په واقعيت کې تحقق ومومي ددې سربېره، نور شرايط هم اړين دي، چې وروسته به يې توضيح کړو.

ټولنيز انقلاب يانې د حاکمې ځبېښاککګري طبقې څخه د واک ليږد، خواريکښې طبقې ته، چې غواړي د ټولنې په ګټه نوي مقررات رامنځته کړي. کولای شو په دې ډول، د ټولنې طبقات او اقشار په ارتجاعي او محافظه کارو (د انقلاب ضد) او په بدلون غوښتونکو (انقلابيونو) وويشو. د ټولنيز انقلاب مانا د مارکسيزم ـ لېنينيزم د علم له لوري، ددې واک له انتقال څخه بل څه نه دی، خو انقلاب هم د واقع کيدلو او د تحقق موندلو له نظره پر دوه ډوله دی: سوله ائيز او جګړه ائيز.

د جګړه ائيز انقلاب عمده شکلونه له وسله وال پاڅون او انقلابي جګړې څخه عبارت دي.

سوله ائيز انقلاب په عمده ډول د ټولني د ډېرکيو د رايو په لاسته راوړلو او په قانوني ډول د حاکم مرتجع (شاتګپال) ځواک په آرامۍ سره له منځه وړل دي. تجربو ښودلې ده، چې که چيرې د حاکمه ځواک لاسته راوړل په قانوني ډول په ځانګړو شرايطو کې شونې وي؛ ددې ځواک ساتنه د بورژوازۍ د قانون جوړولو په تنګ چوګاټ کې ناشونی دی. په دواړو حالاتو کې انقلاب په ټولنه کي يو کيفي بدلون دی، چې د خلګو د ارادې په تپلو او د قدرت په اخيستلو سره ترسره کيږي، څکه پرته د ځواک د داسې اخيستلو څخه (په هر

ډول چې وي، قانوني او يا په غير قانوني) د امتياز خاوندان په خپله له دې امتيازاتو څخه لاس اخستونکي نه دي.

د توليدي ځواکونو او د توليدي مناسباتو د نه جوړجاړي د شرط سربېره، د انقلاب د بريا لپاره عيني او ذهني شرايط هم مهم دي. همدا ټکی دی، چې لنين په خپل يو ډله آثارو کې ليکلي دي:

«د انقلاب عيني شرط، د انقلابي وضيعت له شتون څخه عبارت دی. انقلابي وضيعت هغه وضيعت دی، چې حاکم سيستم د بحران سره مخ شوی وي او نه شي کولای په پخواني ډول حکومت وکړي، تر لاس لاندې خلک يې له بې وزلۍ او محروميت سره مخ وي او پر هغوی باندي نور په پخوانيو تګلارو حکومت ونه شي کړای، د خلکو فعاليت په چټکتيا سره وده وکړي. يا په بل عبارت، دولت د حکومت کولو توان له لاسه ورکړي او خلک هم د مبارزې لپاره چمتو وي. خو ذهني شرط، د انقلابي طبقې د مخکښ ګوند شتون دی. هغه ګوند چې وکولای شي، خلک په پراخه کچه له ځان سره ملګري کړي. زموږ په دوران کې ذهني شرط د کارګرې طبقې د نوي ډول ګوند شتون دی، چې وکولای شي ټولې خواريکښې طبقې له کليو څخه نيولې تر ښاره پورې له ځان سره ولري او په پوره برياليتوب سره انقلاب ترسره کړای شي.»

لنين ليکي، چې د ذهني عامل له شتون، يانې نفوذ لرونکی انقلابي ګوند او انقلابي وضيعت پرته، انقلاب نه برياله کيږي. ښې او چپ اپرچونيستان د ټولنيز انقلاب د تحليل په مسئله کې له دوو اړخونو انحراف لټوي. ښي اپرچونيستان د ټولنيز انقلاب حتميت ردوي او دا دعوه کوي، چې د تدريجي رفورم له لارې کولای شو موخې ته ورسېږو او د رفورمونو تراکم به په خپله بنيادي اوښتون رامنځته کړي.

د اپرچونيزم له مهمو شکلونو څخه چې ورځ تر بلې يې ناسم والی ثابتيږي، داسې نظريات چې په مارکسيزم ـ لنينيزم پورې تړلي وي، هم ميدان ته راوځي، خو په عمل کې مائويستان او د هغوی پلويان دي، چې لنيني تيوري او د عيني او ذهني شرايطو شتون او د پټې او

ښکاره مبارزې تړل، مطالباتي او يا سياسي انقلابي نظريات يا په ځرګند ډول، يا په غير مستقيم ډول ردوي او يوازې ببړنۍ وسله وال ګام د دود له مخې ترسره کوي. په هغه هيوادونو کې چې د ټولنې د کوچنۍ بورژوازۍ ترکيب پياوړی وي، د ښې او چپ اپرچونيزم نظريات وده کولای شي. نو کارګره طبقه او ګوند يې بايد په ټول توان سره د مارکسيزم ـ لنينيزم د پاک ساتلو او د انقلاب د لنيني تيورۍ څخه په دفاع کې مبارزه وکړي.

زموږ د هيواد ترخو او په وينو لړلو تجربو، له سازمان، خلکو او انقلابي شرايطو پرته د انقلابي وګړو د خپلسرو سرښندونکو ګامونو اخيستلو پايلي راته ښودلي دي. ددې تېروتنو تر ټولو لږ زيان دا وو، چې د له منځه تګ تر شا (د لنين په اصطلاح) څو (خسيسانو)، زموږ د ټولنې يو ډله خپل مبارز بچيان چې کولای يې شول، د سم تګلوري په درلودلو سره د مهمو اغيزو سرچينه شي، د ساواکي شاه د جلادانو په لاس يې له لاسه ورکړل.

## د ټولنې طبقات او دولت

ټولنه له داسي پوړکيو څخه جوړه شوي ده، چې د هغوی رول د ټولنې په اقتصاد کې او د هغوی عمل د ټولنيز کار په ويش کې مساوي نه دی. کولای شو طبقات په درې ډلو وويشو:

۱. **استثمارګر طبقات**، چې د توليد وسايل په واک کې لري، خو په خپله د توليد په بهير کې ګډون نه لري. د بېلګي په ډول، زموږ په ټولنه کې، د پانګوالو ډول ـ ډول پوړکي، ټول د صنايعو مالکان، لوی سوداګر، بانکداران، لوی ځمکه وال او نور له ځبېښاکګري طبقې څخه دي.

۲. **استثمار شوي طبقات**، چې د توليد وسايل په خپل واک کې نه لري، خو په خپله د توليد په بهير کې ګډون لري، يانې د توليدي ځواک له ډلې څخه دي. د بېلګي په ډول،

زموږ په ټولنه کې صنعتي او غیر صنعتي کارګران او کرنیز کارګران د استثمار شویو طبقاتو څخه دي.

۳. **متوسط طبقات (کوچني بورژوا)** چې هم د تولید د وسایلو مالکین دي او هم د تولید په بهیر کې ګډون لري. د بیلګي په ډول، د ښارنو کسبګر، متوسط بزګران او د کلیو تش لاسي، د کارکونکو منځني اقشار، روښانفکران او نور، چې په دې طبقې پورې اړه لري.

د بشر په ټول لیکل شوي تاریخ کې، د استثمارګرو، لکه مولایانو (خواجه ګانو)، اربابانو، پانګه والو له یو طرف څخه او د خواریکښو لکه غلامانو، کارګرانو او مزدورانو له بل طرف او منځګړې ډلي، چې ددوی وضعیت دوی کومې ډلې ته نږدې کول؛ ترمنځ طبقاتي مبارزه روانه وه. طبقاتي مبارزه د طبقاتي ټولنو د بدلونونو خوځښت ورکونکي دي، چې په پای کې بریا د پرولتاریا سره ده او د بې طبقې ټولنې د رامنځته کیدو سبب ګرځي. روښانفکران هغه پوړکی دی، چې په هغه کې د ټولنې د هرې طبقې افراد موجود وي، هم په استثمارګرو او خواریکښو کې ګډون کولای شي، هم په پانګوالو کي. دوی له د فکري کار سره سر و کار لري، لکه ډاکټران، هنرمندان، مدافع وکیلان، انجینران، معلمان، زده کړیالان او نور... ځینې روښانفکران نیمه طبقه یا طبقې ته ورته شمیري. کارکونکي هم بېل قشر دی، چې له مختلفو عناصرو څخه تشکیل شوي دي او ترمنځ یې مشترکه وجه په دولتي او غیر دولتي سیستمونو کې کار کول دي. کارکونکي ځینې روښانفکران ګڼي. کارکونکي هم په دوو برخو ویشو بهرني او هیوادني.

په پانګوالي ټولنه کې، بې طبقې خلک هم شتون لري، چې لومپنان ورته وایو، لکه سوالګر، اوباشان او نور...

لنین د یوې ټولنې طبقاتي جوړښت ته ډیر اهمیت ورکوئ او سپارښتنه یې کوله، چي د شعارونو او سیاسي نظریاتو شاته ددې یا هغې طبقې ددې سوال (چي د کومې طبقې په ګټه دي؟) پلټنه دي وشي.

دولت له هغه وخته رامنځته شوی، چې ټولنه په دوو مخالفو طبقو وویشل شول. د دولت موخه، د حاکمې طبقې په ګټه د ټولنې نظم او ثبات ساتل دي.

دولت په طبقاتو ولاړه ټولنه کې د استثمارګرې طبقې استازی دی. په دا ډول ټولنه کې چې دولت هر ډول شکل ولري، په خپل ماهیت کې ددې طبقې دیکتاتوري ده. د بیلګي په ډول، په پانګوالي ټولنه کې، دولت د پانګوالو دیکتاتوري ده، یانې د اقلیت دیکتاتوري پر اکثریت باندې ده. په سوسیالیستي ټولنه کې دولت په خپل ماهیت کې د پرولتاریا دیکتاتوري ده، یانې د ډیرکیو (اکثریت) دیکتاتوري پر لږکیو (اقلیت) باندې ده.د پرولتاریا د دیکتاتوري له علمي ګړنې (اصطلاح) څخه بورژوا مبلیغین دا ډول ناوړه ګټه اخلي، چې ګویا کمونیستان د آزادۍ مخالف او د دیکتاتورۍ پلویان دي. دا یو جنجالي توری دی، چې باید پام ورته وشي.

سوسیالیزم استثمارګره طبقه له منځه وړي، تر ټولو لومړی په ټولنه کې هغه طبقات پریږدي، چې ګټې یې له یو بل سره یو شان وي او بیا وروسته په پړاویز (تدریجي) ډول د بې طبقې ټولنې په لور ځي.

## اقتصادي - ټولنیز فرماسیونونه

که چیرې د بشر تاریخ ته د تولیدي ځواکونو، تولیدي مناسباتو او د طبقاتي جوړښت له مخې نظر واچوو او وغواړو په همدې اساس یې ډلبندي کړو، کولای شو چې په هغه کې هغه پړاوونه مالوم کړو، چې ټولو هیوادونو او تقریباً ټولو ټولنو په پړاویز (تدریجي) او مسلسل ډول تېر کړي، چې اقتصادي-ټولنیز فرماسیونونه، نظامونه او یا اقتصادي-ټولنیزو ډلبندیو په نامه یادیږي.

دا مراحل یا پړاونه عبارت دي له: لومړنی کمون، د مریيتوب دوره، سرواژ (فیوډالیزم)، پانګوالي او سوسیالیزم.

دا پړاوونه په مختصر ډول داسي توضيح کوو.

۱. **لومړی کمون:** دا هغه دوران دی، چې هلته نه خصوصي مالکيت وو او نه د انسان په واسطه د انسان استثمار، ځکه چې بشر د تاريخ لومړني پړاوونه تيرول او د توليدي ځواکونو وده په لومړني پړاو کې وه، چې د اضافي محصول، د خصوصي مالکيت او استثمار سرچينه شي. لومړی کمون، ورو ـ ورو د تعصب پر پړاو پای ته ورسيدی. د تعصب په پړاو کې د ويني او د خپلوۍ اړيکو ته زيات اهميت ورکول کيدی. په دې لومړني نظام کې د ښځو ونډه زياته وه. دا ټولنه د موروواکې ټولني په نامه ياديږي. وروسته بيا د سړو اهميت زيات شو، چې دا ټولنه بيا د پلارواکي ټولنې په نامه ياديږي. د تعصب د نظام پاتې شونې اوس هم په قبايلو کې زيات دي.

۲. **مريیتوب:** ورو ـ ورو خصوصي مالکيت پراختيا مومي، جنگي بنديان او بېوزله پوروړي د غلامانو په شکل بدليږي. ټولنه په شتمنو او مريانو ويشل کيږي، دا لومړني مخالف او نه پخلا کيدونکي طبقات دي. د غلامانو ټولې چاري او ځان په څښتن پورې تړلي و.

۳. **سرواژ يا فيوډاليزم (د خان – مزدورۍ واکمني):** د غلامانو پر خلاف بيا رعيت کولای شول، چې د خپل کار له محصول څخه څه د ځان لپاره وساتي او څه د مالکيت د گټي په نامه ارباب ته ورکړي. سره له دې چې ارباب د غلامانو د مالک په څير د رعيت مالک نه وو، خو بيا هم رعيت د ارباب په اسارت کې دی. ارباب په قانوني ډول د رعيت د وژلو حق نه درلودی. ارباب له رعيت څخه جنسي او نغدي گټه اخيستل. په اروپا کې رعيت له ځمکې سره يو ځای خرڅيدل. په ايران کې په شرعي او عرفي لحاظ آزاد ول، خو عملاً له ځمکې سره تړلي وه. زموږ په ټولنه کې اوس هم د خان - مزدور رژيم پاتې شوني ليدل کيږي.

۴. **پانگوالي يا د کار مزدوري ټولنه:** د توليدي ځواکونو د ودي سره، کرار - کرار کارځايونه او فابريکې رامنځته شوې. د کلي او ښار بېوزلانو خپل د مټ ځواک په

پانگوالانو خرڅوي او مزدورانو ته يې د هغه بدل ورکوي. پانګوالان د مزدورانو د کار ثمره ځانته اخلي.

په ایران کې، د اجناسو - پیسو د روابطو په پراختیا سره او د پخوانیو تګلارو، کارځایونو، د لاسي فابریکو [٤]شتون د تولیدي ځواکونو د نه ودي او د انرژۍ د نوې سرچینې (د بخار د ماشین په څیر) د پیدایښت او د پانګوالۍ د زیاتوالي په نه تحقق (د شاهانو د چټل او لوټونکي استبداد په سبب د قانوني امنیت د حداقل نه شتون په خاطر)، پانګوالي په بومي ساحو کې رامنځته نه شول. په ایران کې پانګوالي په ۱۹مه او ۱۸ مه پیړۍ کې د استثمارګرانو له خوا د سوداګرۍ، پورونو او امتیازاتو له لارې لاره وکړل او په بې ترتیبه شکل یې وده وکړه او دا دی زموږ په ټولنه کې په مستبد نظام بدل شو.[٥]

۵. **سوسیالیزم:** هغه وګړي، چې استثمار شوي دي؛ د کارګري طبقې د رهبرۍ سره، په پای کې د پانګوالانو حاکمیت نسکوروي او ټولنیز مالکیت رامنځته کوي.

مارکس د یو بل فرماسیون (د آسیایي تولید ډول) په نامه یادونه هم کړې وه، چې د بزګري کمونونو، د ځمکو پراخه دولتي مالکیت او د پاچا د خدایۍ او د استبداد لرونکی دی. باید په یاد مو وي، چې ذکر شوي فرماسیونونه په ټولو هیوادونو کې یو ډول شکل نه لري. په هر هیواد کې زیاتې ځانګړتیاوې لري. د بیلګي په ډول، د ایران فیوډالیزم د اروپا له فیوډالیزم سره ورته نه دی. په ایراني فیوډالیزم کې ښار له کلي څخه زیات اهمیت لري؛ ښار د فیوډالانو مرکز وي نه کلي. د پیسو -اجناسو پراخي اړیکي وي، غلامي د کورنۍ په شکل په پراخه اندازه شتون لري او نور...که چیرې یو څوک وغواړي چې دا ټول شکلونه یو شان په نظر کې ونیسي، نو له مشکلاتو سره مخ کیږي. باید ددې فرماسینونو ځانګړتیاوې په یاد

[٥] - زموږ په ګران هیواد افغانستان کي هم د ورته عواملو او وروسته پاته توب له کبله د پانګوالۍ مناسباتو وده نه وکړل او اوس –اوس، چي د امپریالیزم او لویو انحصاراتو دوران دی؛ په ځانته جلا هیوادونو کي د صنعتي پانګوالۍ وده بېخي ناشونې ده، ځکه خو زموږ هیواد باید خپله لار، د پانګوالۍ د دورې په نفي کولو سره، د خلقي ډموکراسۍ له لاري سوسیالیزم ته وباسي.

ولرو، که نه ددې ځانګړتیاوو قالبي کول ددې امکان لري، چې د مشخص وضعیت د مشخص تحلیل ځای ونیسي او موږ بې لارې کړي.

د بورژوا او خرده بورژوازۍ د نظر خاوندان د مارکس د فرماسیونونو له تیورۍ څخه ډیر په عذاب دي، ځکه ددې تیوري په بهر ایستلو سره به یو لړ لارښونکي قوانین د تاریخي فاکتونو د ګنګس کونکي هرج و مرج له داخل څخه راووځي، دا تاریخ به د درک وړ کړي او د هغه د حرکت لوری به راوښیي او د پانګوالانو د خصوصي مالکیت پرځای به د نوي ټولنیز نظام د حاکمیت حتمیت ثابت کړي. ځیني خلګ داسي هڅې کوي، تر څو د مختلفو الګوګانو په ښودلو سره د سفسطه ډوله نظرونو په ورګډولو سره د فرماسیونونو تیوري ناسمه وښیي. بورژوا تیوریسنان لکه ماکس وبر، ټوین بي، لوی ستروس، رستو، آرن بل او نورو په خپله برخه کې کوښښ کړی، چې په یو نه یو ډول تاریخ د پانګوال نظام د ساتونکو په خوښه توضیح کړي. زموږ په دوران کې د مروجه سفسطو څخه یو هم د مارکس د ځینو تذکراتو څخه ناسمه ګټه اخیستنه ده، چې د فرماسیونو د تیورۍ د سست کولو لپاره کاریږي، لکه: د مارکس د پردیتوب تیوري[6] له حده زیات غټول او په ځانته خپلواک سیستم یې بدلول. یا د آسیایي تولید په اړه، د مارکس په ځینو څرګندونو پسې نښتل او د هغو په اړه د خپل زړه او خپل د خوښي تعریفات، ډولونه او تشریحات را ایستل. دا ټول تلاښونه تخریبي او په پای کې بېځایه او عبث دي.

**د فرماسیونونو تیوري؛ د محاسبې او د هرې ټولنې د تاریخي ځانګړتیاوو په نظر کې نیولو سره - د تاریخ په ځنګل کې د ورکو شویو د بیا موندلو لپاره ښه وسیله ده، ځکه په هغه کې پیښې، وګړي، باورونه او تمدنونه ډیر زیات او بیلابیل دي. د لیدونکي لپاره به شاید داسي وښکاري، چې د یوې خورې - ورې او بې پایه لوبې سره مخ دی، په داسې حال کې چې داسې نه ده.**

---

[6]- پردیتوب هغه حالت ته وایي، چې د انسان اراده د دولت په شکل، د انسان خیال د مذهب په شکل، د انسان کار د اجناسو په شکل، د انسان رفتار او کردار د آدابو او رسومو په شکل، له انسان څخه جلا په انسان باندې مسلط وي.

**باید پام مو وي، چې په تاریخ کې همدا د عواملو زیاتوالی، د تاریخ سفسطو ته چې د عمده او ټاکونکو عواملو پر ځای غیر عمده او لږ ټاکونکي عوامل د هغو ځای ناستي کوي. د بېلگې په ډول، فرویډیزم د جنسي غرایزو د عامل په مطلق کولو سره وایي، چې د انسان کړنې د همدې غریزې څخه سرچینه اخلي او فروید غواړي، چې دا عامل د تاریخ د تر ټولو پیاوړي توضیح کونکي عامل باندې واړوي.**

## د مارکسیستي اقتصاد اړوند څو ټکي

لکه څرنگه چې مخکې مو وویل، د مارکسیزم ـ لنینیزم له دریو برخو څخه یو یې اقتصاد دی. مارکس خپله د اقتصاد تیوري په خپل نوماند کتاب کپیټال کې توضیح کړې ده. دا کتاب د پانگوالي ټولنې تحلیل دی. لنین په خپل کتاب (امپریالیزم د پانگوالۍ وروستی پړاو) کې د مارکس تحلیل تعقیب کړی دی. مارکس، انگلس او لنین د اقتصادي او ټولنیز اړخ څخه، د سوسیالیستي ټولنې د جوړښت لومړني اصول روښانه کړي دي. گټوره به دا وي، چې دلته د مارکس، انگلس او لنین د اقتصادي تیورۍ سره په لنډ ډول او د هغې ډلې څخه یوازې د پانگوالۍ او سوسیالیزم له تشریح سره آشنا شو.

**پانگوالي:** د پانگوالو په واسطه د کارگرو د کار او د هغوی له مزدورۍ څخه په گټې اخیستنې پر ځېښاک ولاړ نظام دی. ځېښاک یانې دا چې پانگوال هغه اضافه ارزښت، چې کارگر د خپل کار په واسطه رامنځته کړی وي؛ په خپله ولکه کې راولي.

اضافي ارزښت، د هغه ارزښت څخه عبارت دی، چې کارگر یې د خپل کاري ځواک په واسطه رامنځته کوي. اضافي ارزښت دې ته وایي، چې کارگر د خپل کاري ځواک د خرڅولو په مقابل کې مزدوري ترلاسه کوي. د بېلگې په ډول، (ساده مثال دی، خو په ژوند کې په مراتبو پیچلتیاوي را منځته کړي دي) که فرض کړو، کارگر په ورځ کې اته ساعته کار کوي او په دې موده کې ۱۰۰ ریاله ارزښت رامنځته کوي. پانگوال دا سل ریاله کارگر

ته نه ورکوي، بلکې ۵۰ رياله، چې د څلور ساعتونو د کار له ارزښت سره برابر دی (يانې ددې پيسو په واسطه کارگر خپله د کار انرژي بيرته تازه کړي) ورکوي او ۵۰ نور رياله، چې اضافي ارزښت نوميږي؛ له ځان څخه سپموي. د اضافي ارزښت له تراکم او زياتوالي څخه سرمايه رامنځته کيږي. پانگوال د سرمايې په مرسته توليد او نوی ټولنيز توليد په لاسو کې نيسي. د پانگوال گټه، سوداگري، د بانک گټه او نور ټول د اضافي ارزښت مختلف شکلونه دي، څرنگه چې د شتمنۍ د رامنځته کولو ځواک يوازې د کارگر توليدي کار دی او نور ټول په همدې رامنځته کړي ارزښت معامله کوي.

البته کوم ارزښت، چې توليدي کار رامنځته کوي؛ د اجناسو په شکل بازار ته راځي، يانې له اجناسو او يا پيسو سره د تبادلې وړ دي. ددې اجناسو ارزښت د عرضې (يانې په بازار کې د اجناسو د کچې) او تقاضا (يانې د مشتريانو غوښتنه په بازار کې) پورې تړلی دی. هر څومره چې عرضه زياتيږي؛ هماغومره تقاضا او د اجناسو ارزښت ورسره کميږي. ولې دا ارزښت په هر صورت د هماغه اجناسو د ارزښت په چوکاټ کې دی، چې د کارگرانو د هغه ټولنيز توليدي کار د توليد لپاره کارول شوی. پانگوالان ډول - ډول دي (د فابريکو مالکين، بانک خاوند، سوداگر او نور...) ددې ټولنيز توليدي کار عامل کارگران دي، د هغه حشرې په څير چې لويې ونې پورې نښتي وي او ونې د حياتي شيرې په څښلو سره لويږي.

پانگوالي په خپل عمر کې له دوو پړاوونو څخه تېره شوې ده:

۱. **مخکې له انحصاري پانگوالۍ څخه پانگوالي**، چې په آزاد رقابت ولاړه وه. د همدې آزاد رقابت په سبب وو، چې پانگوالانو په دې دور کې متوسطه گټه لاسته راوړل.

۲.**انحصاري پانگوالي**، چې په دې کې رقابت محدوديږي او په عمده ډول رقابت د انحصار د مالکانو يا مونوپولانو تر منځ پاتې وي.

انحصاري پانگوالان د يا امپرياليزم د حداکثر گټې په لټه کې دي.

زموږ په دوران کې پانګوالۍ په مختلفو هیوادونو کې په مختلفو پړاونو کې تکامل کړی دی. ډیر وخت شوی، چې پانګوالي د انحصاري دولتي پانګوالۍ شکل ته ننوتې ده. په دې پړاو کې مونوپولان او دولت له یو بل سره یوځای شوي او یو بل ته یې لاس ورکړی. دولت د تولید لپاره په برنامه جوړونه او په سوداګرۍ کې مداخله کوي او د اقتصاد ځیني برخې د خپل نظر لاندې نیسي. په دې ډول سره، هر وخت چې شونې وي؛ له پانګوالو سره مرسته کوي.

په ایران کې د دولتي انحصاري پانګوالي او د ښي سوسیال دموکرات له تګلوري څخه د پانګوالانو او د شاهي کورنۍ په ګټه د ټولنې د وضعیت د ثابت ساتلو، د ټولنې د پرمختګ د مخنیوي او د ټولنیز انقلاب د مخنیوي لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږي. د عمومي او خصوصي سکټورونو، د کارګرو اتحادیه، په اسهامو او ګټو کې د کارګرانو ګډون، د تعاونونو او بیمو (البته ددوی تبلیغات د واقعیت څخه له حده زیات لري دي) رامنځته کول ددې لپاره چې د استثمار عمر اوږد او د ایران کارګران بې حسه کړي؛ د واکمنۍ غولونکي سیاست دی.

د پانګوالۍ اصلي تضاد د تولید ټولنیز والی او د مالکیت د ډول د خصوصي والي څخه عبارت دی. دا تضاد یوازې په سوسیالیزم کې د تولید د وسایلو په ټولنیز کولو سره حل کیږي. ددې تضاد د ښکاره بیلګو څخه یو هم په پانګوالۍ کې، د تولید ګډوډي (بې نظمي) ده. تولید د مختلفو پانګوالو موسساتو له خوا، چې د یو بل سره د ګټو د لاسته راوړلو لپاره په سیالۍ کې دي رامنځته کیږي، نو کله هم اضافه تولید کیږي، چې د بحرانونو او نورو کړاوونو د جوړېدلو سبب ګرځي.

دولتي انحصاري پانگوالي غواړي، چې ددې گڼوډۍ مخنیوی وکړي، خو ددوی گامونه يې بيا هم بنسټيزه چاره نه شي کولای صرف د درد آرامونکي درملو رول لوبوي.[۷]

د دولتي پانگوالۍ يو اقدام، چې هغه يې په درواغو (نوې پانگوالي) او (خلقي پانگوالي) نومولې ده، په داسې حال کې چې (نه نوې ده او نه خلقي ده) د اقتصاد شديد نظامي کول او د نظامي مصارفو لوړول دي، چې ټول د دولت له خوا تنظيمیږي. پانگوالان دا لاره د تل لپاره د خپلو اجناسو د خرڅولو په غرض په واک کې لري. پانگوالي په نوي دوران کې برنامې جوړولو ته هم لاس اوږد کړی دی، تر څو تر شوني بريده د اقتصادي گڼوډۍ (هرج مرج) څخه مخنیوی وکړي او وکولای شي د سوسياليستي نړۍ پر وړاندې خپل سيالي او ځواک وساتي، خو پانگوالي په جامع برنامه جوړونه باندې نه شي بريالی کېدلای.

ددې گامونو د اخيستلو سره، د پانگوالۍ ډنډورچيان، ښې سوسيال دمکراسي او رويژيونيستان ادعا کوي، چې گواکي نور پانگوالي نه شته، يا دا چې سوسياليزم او پانگوالي له يو بل سره نږدې شوي او د (کنورژانس) تيوري او (واحده صنعي ټولني تيورۍ) را مخته کوي. ټولې دا ډول ادعاوې سفسطې دي او موخه يې دا ده، چې د سوسياليزم او د پانگوالۍ د ژور او ماهيتي تضاد څخه منکر شي او يا پرده باندي وغوړوي. مارکسيستان بايد د پانگوالي د ايديولوگانو دا ډول نازکو تبليغاتو پر وړاندې پرانيستي سترگي ولري.

[۷]- په دې برخه کي د بورژوا اقتصاد پوه جان مينارد کينز نظريات د يادولو وړ دي. د هغه په باور د پانگوالۍ د بحرانونو پر مهال، بايد دولت خپل لگښتونه زيات او ماليات را کم کړي، تر څو اقتصاد خپل عادي حالت ته وگرځي او عادي حالت ته گرځېدلو وروسته ددې برعکس. ددې ډول لگښتونو لپاره ښه انتخاب د وسلو صنايع دي. په واقعيت کي، د نړيوالي پانگوالۍ لخوا پر هيوادونو باندي د جگړو تپلو، جگړو جوړولو، نظامونو د نسکورولو او وسلو د سياليو جوړولو تر شا، د انسانانو د وينو د تويولو او هيوادونو د ورانولو سره، د پانگوالي اقتصاد د پايښت کيسه ده. په دې اړه، گران لوستونکي کولای سي، د يوگوسلاويا، افغانستان، عراق، ليبيا او نورو هيوادونو باندي د امريکايي او ناټويي امپرياليزم د حملو په اړه پلټنه وکړي.

د دولتي انحصاري پانګوالۍ پر مهال، استعماري سیاست په نوي شکل سره دوام پیدا کوي.

پانګوالي، په ځانګړي ډول په انحصاري دوران کې، هغه هیوادونه چې لږ وده یې کړې وي او یا وروسته پاتې وي؛ د اقتصادي، سیاسي او نظامي مداخلاتو له لارې تر خپل نفوذ لاندې راولي.

هغه هیوادونه چې د امپریالیستي هیوادونو د اسارت لاندې دي پر دوه ډوله دي:

**یا مستعمره وي**، یانې خپله ظاهري خپلواکي هم نه لري او حکومت په ښکاره ډول د امپریالیستانو په لاس کې وي (اوس مهال تر ټولو ورستۍ بیلګې یې په افریقا کې له منځه تللي).

**یا نیمه مستعمره وي**، یانې په بل پورې تړلي وي، چې هلته حکومت مستقیماً د امپریالیستانو په لاس کې نه وي، ظاهري خپلواکي وي، خو په واقعیت کې امپریالیستان د هغه هیواد پر ټولو چارو واکمن وي. البته نیمه مستعمره یا بل پورې تړلي هیوادونه خپلي ډلبندۍ لري او په نورو پورې تړلي هیوادونه د نن ورځې په شرایطو کې شونې ده؛ د سیاسي خپلواکۍ سربیره، د خپلې اقتصادي خپلواکۍ په لار کې هم په بریالیتوب سره مبارزه وکړي.

امپریالیستي مستعمراتي سیستم د دوهم نړیوال جنګ څخه وروسته په لویدلو پیل وکړ او زموږ په وخت کې، امپریالیستانو خپل د استعمار تګلاري په ډېر پټ او آرام ډول کاروي، چې نوی استعمار (نیوکلنیالیزم) هم ورته ویل کیږي او پر یادو هیوادونو باندي یې خپل اقتصادي برلاسیتوب ساتلی دی. په وروستیو کلونو کې، نوي استعمار خپلي پټې تګلاري رامنځته کړي او غواړي، چې د دریمې نړۍ

هیوادونه د خپلو اقتصادي سیاستونو عملي کونکي وګرځوي. د کارګرانو خوځښت، د خلکو له خوځښت سره د نوي او زاړه استعمار څخه د خلاصون لپاره یو ځای شوي. په واقعیت کې د نوي استعمار څخه خلاصون پرته د پانګې له خلاصون څخه شونی نه دی، ځکه پانګوالي په خپله زموږ په دوران کې ددې تړاو او رامنځته کونکې ده.

سوسیالیزم د پانګوالۍ د نسکورېدو او د پرولتاریا د دیکتاتورۍ د حاکمیت سره، د نوې - سوسیالیستي ټولنې د رامنځته کیدو ټولنیز شرایط رامنځته کېږي. د پانګوالي ټولنې خلاف، چې د فیوډالي ټولنې په بطن کې وده کوي؛ سوسیالیستي ټولنه په آګاهانه ډول، د کارګري طبقې د نوي ډول ګوند د رهبرۍ سره جوړېږي.

ځینې اپرچونیستان دعوه کوي، چې ګواکې د مخکښو انقلابي عناصرو او د خلکو اقدام، داسې مهال چې ټولنیز شرایط مساعد وي؛ د پانګوالۍ د جبهې ماتول او په انقلابي ډول د واک اخیستل، یو ناسمه چاره ده او باید سوسیالیزم پرېښودل شي، چې خپله د پانګوالۍ د دوران له بطن څخه راووځي. دا تیوري د برنشتین لخوا (د مارکس د ژوند پر مهال) او د کایوتسکي لخوا (د لنین د ژوند پر مهال) وړاندې شوې ده، چې تر نن ورځې پورې تکرارېږي. ښکاره ده، چې که چیرې د روسیې د پرولتاریا له خوا د لنین په مشرۍ د ۱۹۱۷م کال انقلابي ګامونه نه وای اخیستل شوي؛ موږ به نن د بشري ټولنې د دومره لویو تغیراتو یا د تکامل د داسې روښانه وړانګو سره نه وای مخ شوي.

سوسیالیستي ټولنه له دوو مرحلو یا فازونو څخه تیرېږي.

**۱-سوسیالیستي فاز**: په دې فاز کې ټولنه (هر کس ته د استعداد پر اندازه او هر کس ته د کار په اندازه) پر بنسټ ولاړه وي. څرنگه چې استعداد او کار مختلف دي؛ هغه مزد چې وګړو ته ورکول کیږي؛ بیلابېل دي. په دې فاز کې لاتراوسه واقعي اقتصادي او ټولنیز عدالت نه وي حاکم شوی.

**۲- کمونیستي فاز**: ټولنه په دې فاز کې (هر کس د استعداد پر اندازه، هر کس ته د اړتیاوو په اندازه) پر بنسټ ولاړه وي. کمونیستي فاز هغه مهال رامنځته کېدلای شي، چې د مادي او مانوي نعمتونه تامین شي؛ د فکري او جسمي کار او د کلي او ښار ترمنځ توپیر له منځه ولاړ شي. د کمونیزم بریالیتوب هغه مهال شونی دی، چې ټولنه د عالي تکنیک، فرهنگ او ښو - انساني ټولنیزو روحیاتو ته رسېدلې وي.

امپریالیزم په خپل ټول توان سره کوښښ کوي، چې په خپلو دایمي ګواښونو سره سوسیالیستي هیوادونه زیاتو دفاعي مصارفو ته مجبور کړي، ترڅو د سوسیالیستي ټولنې او د سوسیالیستي دموکراسۍ د غوړېدو پر وړاندې خنډ شي، خو دوی به نن یا سبا د خپلو دې هڅو سره ماتې وخوري.

هغه ټولنې چې تراوسه یې لږ وده کړې ده؛ په هغو کې میراثي او فیوډالي نظامونه تراوسه حاکم دي او د امپریالیستي دولتونو مستقیم یا غیرمستقیم نفوذ باندي شته. سوسیالیستي انقلاب اړ کیږي، چې لومړی ملي دموکراتیکه دوره تېره کړي. دا پړاو، د تدارک او اوښتون پړاو دی. وروسته د ملي او دموکراتیکې دندې له ترسره کولو، یانې د سیاسي او اقتصادي خپلواکۍ او د واقعي ځمکنیو اصلاحاتو او د دولتي اقتصاد د سکټور له پراختیا، د خلکو د حاکمیت او د ټولنیز ژوند

ديموکراتيزه کولو او نورو دندو څخه، د سوسياليستي ټولنې د رامنځته کولو لپاره تر هر مهال زياته زمينه برابريږي.[۸]

ملي او ديموکراتيک پړاو بايد په دقت او زغم سره تېره شي او تر شونې بريده هڅه وشي، چې سوسياليستي عناصر د زور او امر له لارې نه، بلکې د سوسياليستي عناصرو د برترۍ او قربانۍ ښودلو په واسطه په خپله په غير سوسياليستي عناصرو غلبه وکړي. که چيرې ملي او دموکراتيک پړاو په زور او امر سره تطبيق شي؛ په ټولنيز نظم کې ستونزي پيدا کوي؛ داسي ستونزي چي په آسانۍ سره يې چاره شونې نه ده.

ملي او دموکراتيک پړاو هغه مهال کولای شي، د سوسياليزم د جوړښت پيلامه شي، چې د کارگري طبقې د گوند رهبري او خپله گوند په مارکسيزم ـ لينيزم باندې سمبال وي، که څه هم ددې پړاو د دندو ترسره کول د پانگوالۍ د مناسباتو له ودي سره مرسته وکړي.

سوسياليستي ټولنه د لومړي ځل لپاره د ځمکې پر يو شپږمه برخه باندي د ۱۹۱۷م کال د اکټوبر د لوی انقلاب سره را منځته شول. د اکتوبر د انقلاب بريا د ولاديمير ايليچ لنين او د بلشويک گوند د ځيرکي رهبرۍ پايله ده.

وروسته له دوهم نړيوال جنگ او د جاپان، آلمان او ايټاليې پر فاشيزم باندي د شوروي د ځواکونو د برياليتوب سره، په يو لړ آسيايي او اروپايي هيوادونو کي د خلقي او دموکراتيکو انقلابونو ته شرايط برابر شول. په دې هيوادونو کې لومړی

[۸] - د کتاب ليکوال، په هغه مهال کي د شوروي اتحاد په کمونست گوند کي، حاکم ښې ريژيونيزم څخه په اغيزمنتوب، ملي او دموکراتيکه مرحله د انقلاب لپاره لومړنۍ مرحله گڼي. په واقعيت کي د شلمي پېړۍ تاريخ د ملي دموکراتيکو انقلابونو او حکومتونو موډل ناکام او په نهايت کي بيا هم د بورژوازۍ واکمنۍ ته د لاري پرانيستونکي ثابت کړل او ويې ښودل، چي سوسياليزم ته د تللو لپاره يوازينۍ لار «خلقي دموکراسي» ده.

دموکراتیک نظامونه او بیا سوسیالیستي نظامونه رامنځته شول او په دې ترتیب سره نړیوال سوسیالیستي سیستم رامنځته شو.

د سوسیالیستي هیوادنو اړیکې د پرولتاریایي انترناسیونالیزم، مرستي او همکارۍ پر بنسټ ولاړي دي.

په ورستیو کلونو کې، په ځانګړي ډول د چین د مشرانو د تګلاري له کبله، په نړیوال کارګري خوځښت کې اختلافات رامنځته شوي دي.

موږ په دې باور یو، چې هم له طبقاتي نظره او هم د انترناسونالیزم له اړخه، د شوروي اتحاد کمونیست او اکثره ورونه ګوندونه اساسي کرښې تعقیبوي، د کارګرانو او خواریکښو ګټې په پام کې نیسي او هم سولې ته چوپړ کوي. دا اساسي کرښې د دګماتیزم او د هغه افکارو د جامد کولو څخه نه دي، چې زموږ د عصر لپاره د انطباق وړ نه دي، بلکې د خلاق او علمي تفکر پر بنسټ دي. په عین حال کې دا کرښه د ریزیونیزم او د بې ځایه تجدید نظر، چې سم او د انطباق وړ وي او باید چې بدلون پکښې رانه شي؛ د انقلابي زده کړو له ماهیت سره اړه لري.[۹]

موږ په دې باور یو، چې د وخت او د پېښو عبرتناکو درسونو، د اصولي مبارزې، د ټولنیزو بحثونو په مرسته به شته اختلافات حل او د مارکسیزم ـ لنینیزم د اصولو پر بنسټ به پیاوړي اړیکي را منځته شي او هغه څوک چې په کارګري غورځنګ کي بې اتفاقي رامنځته کوي؛ هغوی چپ او ښې منحرفان به سره جلا شي او سالم

[۹]- زموږ په باور، د ستالین تر مړیني وروسته، د شوروي اتحاد په شلمه کنګره کي، د شوروي اتحاد په کمونست ګوند کي ښې ریژیونیستان واک ته ورسېدل او چین بیا د مائو تر مشرۍ لاندي د کیڼ ریژیونیزم پر خوا ولاړی. تر ستالین وروسته، د چین او شوروي اتحاد کمونست ګوندونو دواړو، غیر اصولي او غیرمارکسیستي – لنینستي کرښې تعقیبولې، چي پایله یې نړیوال سوسیالیستي غورځنګ ته د کلک ګوذار رسېدل وه.

ځواکونه به د سالم انقلابي پلاټفارم سره يو بل ته لاسونه ورکړي. دا کار د ناسيوناليستي افکارو د شتون، د نړيوالي پانګوالۍ د تحرکاتو او په چين او د نړۍ په نورو برخو کې د حاکمو کلکو خرده بورژوا روحياتو شرايطو کې کيدای شي وخت ونيسي، خو وروستۍ پايله يې يانې د نړيوال کارګري خوځښت د وحدت بيا رامنځته کيدلو کې هيڅ شک نه شته.

## د ګوند په اړه

په انقلاب او طبقاتي مبارزو او په نوي سوسياليستي ټولنه کې د بريا لپاره د کارګرې طبقې نوی ډول ګوند اساسي او عمده وسله ده.

د کارګرې طبقې نوی ډول ګوند د کارګرې طبقې د مخکښو عناصرو او د هغو کسانو مرکز دی، چې دې ته حاضر دي، ددې طبقې د ارمانونو په لار کې مبارزه وکړي. دا ګوند د نړۍ ليد، برنامې او اساسنامې پر اساس داوطلبانه يووالي څخه جوړيږي.

په هغه هيواد کې چې هلته بيلابيل خلک ژوند کوي، د کارګرې طبقې نوی ډول ګوند (نور کارګري سازمانونه هم بايد ټولشموله وي) بايد د ټولو خلکو واحد سازمان وي، تر څو د کارګرو مبارزه متحده کړي او هغوی د بريا پر لور يوسي. د رهبرۍ او سازماني اړخه ددې ګوند ملي ويشنه سمه نه ده.

ګوند له رهبرۍ، مرکزي هستې يا کادر او د ګوند ساده غړو څخه تشکيل شوی دی. په ګوند کې رهبري جمعي (ټوله ائيزه) ده، خو مسئوليت فردي دی. د رهبرۍ چاري د علمي تګلوري پر بنسټ تر سره کيږي او له څلورو برخو څخه تشکيل شوې ده:

**۱. په یوې موضوع کې د لازمو فاکټونو (واقعیتونو، عواملو) راټولول او د هغوی دقیقه مطالعه**

**۲. د مارکسیزم ـ لنینیزم د علمي اسلوب پر اساس د فاکټونو تحلیل**

**۳. له دې تحلیل څخه د عملي شعارونو او لارښودنو را ایستل**

**۴.ددې شعارونو او لارښونو ترسره کول، د ترسره شویو کړنو بیا کتنه، د تېروتنو سمون او د سرو کرښو دقیق کول.**

په یوه جمله کې، د گوند د رهبرۍ او د ټول گوند د فکر اسلوب نه باید ذهنیت پاله (سوبجکټویسټ) وي، بلکې باید د عیني واقعیتونو، دې ته په نه کتو، چې دا زموږ په خوښه دي که نه؟ پام وشي.

د گوند مرکزي هسته، چې د گوند سازماني فعالیت اداره کوي؛ د کادر یا فعالینو په نامه یادیږي. کادر د گوند د فعالو آگاه غړو څخه د انتخاباتو یا انتصاباتو له لارې ټاکل کیږي.

د گوند جوړښت د ډموکراتیک سنټریالیزم د اصل له مخې اداره کیږي.

سنټریالیزم یا مرکزیت د اکثریت څخه د اقلیت اطاعت ته ویل کیږي، له پورته ارگانونو څخه د ښکته ارگانونو اطاعت ته هم وایي او د گوندي لارښونو او اوامرو یو شان پلي کیدلو، انضباط او ډسپلین څخه هم عبارت دی.

په گوند کې فراکسیوني او ډله ائیزې چارې منع دي. د وحدت او یوې ارادې شتون د گوند د دوامداره ځواک د ساتنې لپاره اصلي شرط دی.

دموکراسي؛ یانې د گوند د رهبرۍ انتخابي والی، افرادو ته د رهبرۍ ځواب ویل، د انتقاد د آزادۍ شتون، له پریکړې کولو څخه وړاندي د مسایلو په اړه آزادانه بحث او مشوره اړینه ده، خو وروسته له پریکړې نیونې ټول باید د یو وجود په څېر شوې پریکړه ومني.

د مبارزې شرایطو ته په کتو سره، ددې سنتریالیزم او دموکراسۍ تناسب تغیر کوي، خو هیڅکله نه باید گوند ددې مهم تشکیلاتي اصل له دایرې بهر شي او ددې دوو قطبونو څخه یو مطلق کړي. د سنتریالیزم او دموکراسۍ ترمنځ تناسب باید په مشخص ډول حل شي.

د کارگري طبقې د نوي ډول گوند له مهمو اصولو څخه، خپلواکي او انترناسونالیزم دي. خپلواکي یانې گوند د ټولنې د وضعیت څخه د خپل مشخص علمي تحلیل پر بنسټ، خپله ستراتیژي، تاکتیک، تگلاره او خپل شعارونه ټاکي او د هغې له مخې عمل کوي او د انترناسیونالیزم اصل، یانې دا چې د کارگري طبقې نوی ډول گوند د نړیوال کمونیستي انقلابي غورځنگ څخه ملاتړ او حمایت وکړي او ددې نړیوال غورځنگ په دننه کې د ټولو ځواکونو سره خپل د وروروليۍ ملاتړ وساتي.

په گوند کې، د سریت (پټولو) او علنیت دواړه اصلونه مراعات کیږي. د گوندي رهبرۍ ارگانونه د خپلو غړو، د خپلې او طبقې په مقابل کې په ټولنې پورې تړلې واقعیتونه وایي، خو په عین حال کې د بریالیتوب، د زیانونو د مخنیوي او د دوښمن د ناسمي گټې اخیستني د مخنیوي لپاره، د گوند او غړو د امنیت لپاره سریت او محرمیت مراعت کوي. د سریت او علنیت ترمنځ د تناسب ساتل هم له اړینو مسایلو څخه دي، چې باید په مشخص ډول د صالحو او مسئولو ارگانونو له خوا حل شي. گوند د داسې برنامو درلودونکی دی، چې په هغه کې لیرې او نږدې موخې توضیح او تشریح شوي وي.

گوند د اساسنامې درلودونکی دی، چې په هغه کې د گوندي ژوند مقررات او د گوند جوړښت توضیح شوي دي. د گوند مقررات د ټولو غړو لپاره یو شان دي او د هغه ترسره کول د ټولو غړو دنده ده. د گوندي مقرراتو د جدي اجراآتو پرته، گوند خپل تشکیلاتي انتظام، د مبارزې ځواک او خپله مېړانه له لاسه ورکوي. باید پام مو وي، چې سازماني اصول اوښتونکي نه دي، په داسې حال کې چې د سازماني مقرارت او د کار ډول یې، چې

د اصولو د انطباق پایله ده؛ په مشخصو زماني او مکاني شرایطو باندې کولای شي د اړتیا په صورت کې بدلون وکړي.

گوندي مبارزه پر دوه ډوله ده:

۱.له گوند څخه بهر مبارزه

۲.د گوند په داخل کې مبارزه

۱. **له گوند څخه بهر مبارزه:** دا د کارگرې طبقې د دوښمنانو، د سوسیالیزم او دموکراسۍ د دوښمنانو او د هغوی د دایمي او موقتي متحدینو پر وړاندې د گوند اصلي مبارزه ده. ددې مبارزې موخه، هغو موخو ته رسېدل دي، چې د گوند په تگلاره کي راغلي دي.

دا مبارزه درې شکله لري:

**ایډیولوژیکه یا تیوریکه مبارزه:** د لیکلو او شفاهي تبلیغاتو له لارې د گوند د نړۍ لید په گټه او د دښمن نړۍ لید پر ضد مبارزه ده.

**سیاسي مبارزه:** سیاسي مبارزه د گوند د ورځنۍ مبارزې محتوا تشکیلوي. لکه په ټاکنو کې گډون، پارلماني مبارزې، لاریونونو ته لاس اچول، د خپل نظر د پر مخ وړلو لپاره کمپاینې کړنې او پر خپلو سیاسي مخالفینو باندې د غلبې لپاره مبارزه.

**اقتصادي او صنفي مبارزه:** د مطالباتي مبارزاتو او د اقتصادي او صنفي حقوقو د تامین لپاره، د کارگرې طبقې او د هغې د متحدینو سمبالول او د سیاسي غوښتنو سره هغو ته تړاو ورکول.

مبارزه کېدای شي، چې په دوه ډوله تر سره شي:

## لومړی، علني د قانون په چوکاټ کې

**دوهم، مخفي او غير قانوني**

گوند باید د علني کار شرایطو او د خپلو کارونو مخفي کولو ته، هر کله چې اړتیاو وي؛ چمتو اوسي.

مخفي مبارزه د گوند امکانات محدودوي، نو د مخفي کار تر څنگ د علنیت لپاره مبارزه وکړي او خپل مخفي او علني کارونه سره وتړي. د مخفي کار په شرایطو کې گوند مجبور دی، چې د خپل ژوند په شرایطو کې بدلونونه راوړي.

د گوند څخه د باندې مبارزه موخو ته د رسېدو لپاره کولای شي، چې دوه شکله ځان ته غوره کړي:

**سوله ائیز شکل**، لکه ټاکني، اعتصابونه، لاریونونه او نور...

**جگړه ائیز شکل**، لکه وسله وال پاڅون او انقلابي جگړې

گوند هڅه کوي، چې په سوله ائیز شکل خپلو موخو ته ورسیږي، خو حاکم طبقات جگړه ائیز تاکتیکونه کاروي او تاوتریخوالي ور باندي تپي.

گوندي مبارزه، د گوند د دوښمنانو پر وړاندې د اصولو په چوکاټ کې ترسره کیږي، چې ستراتیژي او تاکتیک ورته وایي.

۲.د گوند په دننه کې، مبارزه د نړۍ لید د اصولو او د تشکیلاتي موازینو د ناقضینو، د گوندي وحدت د پیاوړي کولو، د گوند په سرو کرښو یا ارگانونو کي د افرادو د کینې او ښې انحرافاتو پر ضد ترسره کیږي. د گوند دننه مبارزې بنسټیز تگلوری انتقاد دی او د هغه موخه د گوند د وحدت او یووالي ژوروالی دی. د گوند دننه مبارزه باید سالمه او نوښتگره وي او د تخریب، ذهنیت پالني او شخصي اغراضو څخه پاکه وي، که څه هم زیان اړونکې هم وي او د گوند ټول ارگانیزم کمزوری کوي. د گوند داخلي مبارزه نه باید د خارجي دوښمن پر وړاندې، د گوند د جنگېدو توان کمزوری کړي. د گوند دننه مبارزه

باید په داسې ډول ترسره شي، چې د سالم نظر د څرګندولو ابتکار او زړورتیا خاموشه نه کړي او ګوند اداري کېدو، بوروکراټ کیدو او کېش شخصیت پر لور بونه څي؛ دا ډول پدیده په ګوند کي د انحطاط او ګډوډۍ لامل ګرځي.

## ستراتیژي او تاکتیک

د کارګرې طبقې د نوي ډول ګوند تاکتیک او ستراتیژي علمي ده، چې بنسټ یې ددې طبقې لویو تیوریسنانو مارکس، انګلس، لنین او نورو ایښی دی. ستراتیژي او تاکتیک د کارګرې طبقې د ګوند ټولنیزي - ملي آزادۍ او د سوسیالیزم او کمونیزم د بریالیتوب لپاره د رهبرۍ او مبارزې علم دی.

ستراتیژي د انقلاب د تکامل یو تاریخي دوران په بر کې نیسي. مثلاً انقلاب د دوو ستراتیژیکو پړاوونو درلودونکی دی. لومړۍ پړاو یې خلقي دموکراتیکه دوره ده. په دې دوره کې ستراتیژیکه موخه، سیاسي او اقتصادي خپلواکۍ ته رسیدل او  د سیاسي او اقتصادي ژوند دموکراتیزه کول دي. دوهم پړاو، سوسیالیستي پړاو دی.په دې پړاو کې ستراتیژیکه موخه، د سوسیالیزم د مادي او تخنیکي بنسټونو جوړښت او د سوسیالیستي ټولنې رامنځته کول دي. ستراتیژیک شعارونه، یانې هغه شعارونه چې د ګوند غوښتني په ټاکلي ستراتیژیک پړاو کې ټاکي.

مګر تاکتیک د یوې ستراتیژیک پړاو په دننه کې لنډ دورانونه دي او هم په ټاکلو شرایطو کې، د مبارزې مشخص شکلونه په ځان کې رانغاړي. تاکتیک د ستراتیژۍ د برخو څخه دی او د هغه تابع دی. تاکتیک باید په داسې شکل وټاکل شي او په داسې ډول سره عملي شي، چې وکولای شي ستراتیژیکي موخي ته مورږ ورسوي. هغه شعارونه چې، په تاکتیکي پړاوونو کې مطرح کیږي، د تاکتیکي شعارونو په نامه یادیږي.

**د انقلابي گوند د مبارزې د ستراتيژۍ او تاکتيک بنسټيز قواعد، د تجربې پر بنسټ ترلاسه شوي دي. د غورځنگ د عيني او ذهني شرايطو دقيقه مطالعه، د نړۍ او هيواد د حالاتو مشخص تاريخي تحليل، د کيڼ او ښې رويزيونيزم او د کيڼ او ښې اپرچونيزم څخه ډډه کول؛ مطلوبو پايلو ته د تاکتيک او ستراتيژۍ د رسيدلو شرط دی.**

د هغو ځواکونو يو ځای کول، چې وکړای شي په يوه ټاکلې موده کې د دوښمن پروړاندې سره يو ځای شي او هرڅومره چې زيات کيږي، د دوښمن يوازي کول، له ټولو مساعدو عواملو څخه سمه گټه اخيستنه، د انقلاب د دايمي او موقتي ذېرمو څخه سمه گټه اخيستنه، د يو عمل د ترسره کولو لپاره د سم وخت ټاکل، د مبارزې په بهير کې د کار او اصلي گروپ موندل، د ماموريتونو لپاره د وړو افرادو ټاکنه، په ډلو باندي د ستونزو ويشل او د د يو لړ قواعدو، ستراتيژيو او تاکتيکونو سره د هغو حل، چې موږ ته د تجربې له مخي لاسته راغلي او بايد د مبارزې په بهير کې مراعات شي؛ د گوند اساسي دندي دي.

د گوند سرې کرښې، يانې د گوند ليرې او نږدې برنامې، يا په بل عبارت د گوند شعارونو او موخو ته وايي.

په داسې حال کې چې زموږ په هيواد کې د شلمې پيړۍ په اوايلو کې (۱۹۰۶-۱۹۱۱) کې لوی پانگوالي انقلاب رامنځته شو، چې د مشروطيت انقلاب ورته وايي، خو د امپرياليزم او د هغو د لاسپوڅو په بدو او خنډ رامنځته کونکو اعمالو سره، تر اوسه پوري يې د يو پانگوالي د انقلاب دندي ( لکه: سياسي او اقتصادي خپلواکۍ، د ځمکي د مسئلې دموکراتيک حل، د ملي مسئلې حل، د سياسي دموکراسۍ تامين) نه دي ترسره کړي، نو ايران تراوسه د ملي او دموکراتيک انقلاب په پړاو کې دی. زموږ شعارونه او ستراتيژيکي موخي ددې دندې د ترسره کولو لپاره دي. د گوند په نوې برنامه کې د دې دندې او د ايران د ملي او دموکراتيک انقلاب د بريا ټولنيز شرايط په تفصيل سره بيان شوي دي.

زموږ د گوند تاکتيکي موخي، د ستراتيژيک پړاو په بيلابېلو دورانونو کې توپير کوي او د ايران او د نړۍ د ورځنيو شرايطو تابع دي.

په داسې حال کې چې زموږ گوند د ملي دموکراتيک ايران رامنځته کېدل، د ملي او ډموکراتيکو طبقاتو، اقشارو او هغوی پورې تړلو سازمانونو ايتلاف مو خپل ستراتيژيک هدف گرځولی؛ د سلطنتي استبدادي واکمنۍ نسکورول يې بيا د ټولو رژيم ضد ځواکونو په واسطه خپل عمده تاکتيکي هدف ټاکلی دی.

د گوند د تگلارې د ټاکلو لپاره، يوازي د تاکتيکي او ستراتيژيکي موخي ټاکل بسنه نه کوي. گوند بايد د علمي او رښتيني تحليل سره د نړۍ، هيواد، انقلاب او د غورځنگ، د دوستانو او دوښمنانو په مالومولو سره، خپل نظر د ټولو بنستيزو مسايلو په هکله، څه که نړيوال مسايل وي، څه که په خپله ټولنې په دننه کې وي؛ روښانه کړي. خپل وړانديزونه او ابتکارونه سم فورمول بندي کړي او په مسايلو کې گونگتيا پرېښږدي، ځکه په مسايلو کې ابهام، د گوند مانوي وحدت گډوډوي. روښانه ده، چې دا سرې کرښې بايد د خپلو تجربو (پراتيک) او د نورو د تجربو په واسطه دقيقې او مشخصې شي.

کله چې د لنيني سازمان سره ياست سمه تگلاره؛ تاسي سم تگلوري ته سيخوي.

لنين سياسي تگلارې ته مانوي مخبنا او سازمان ته مادي زيربنا وايي او دا دواړه د کلک تړاو په درلودلو سره ښه پايله ورکونکي بولي.

**سمه تگلاره پرته له سازمان څخه، يوازي ښې خبرې دي او سازمان پرته له سمې تگلارې ښکاره ده، چې پاشل کيږي.**

# په نړۍ او افغانستان کي کارگري انقلابي غورځنگ ته کتنه

## په نړۍ کې

په نړۍ کې انقلابي کارگري خوځښت له دریو پړاوونو تیر شوی:

۱-انترناسیونال (یا لومړی بین الملل) چې په کال ۱۸۶۴، د سپتامبر ۲۸ مه په لندن کې جوړ شو او وروستی کنفرانس یې په ۱۸۷۶ کال کي د امریکا په فلادلفي کې پای ته ورسید او له هغه وروسته تعطیل شو. دا بین الملل د (نړیوالي کارگري ملگرتیا) په نوم یادېږي. ددې بین الملل اصلي بنسټ ایښودونکی کارل مارکس و. په دې بین الملل کې د هغه وخت ټول کارگري بهیرونو، د خپل پلاټفارم سره گډون پکښې کړی وو. لومړی بین الملل په اروپا او امریکا کې د کارگري گوندونو بنسټ ایښودونکی و او ددې سیمي د کارگرانو اړیکې یې ټینگې کړي.

۲-دوهم انترناسیونال. دا بین الملل ته (د سوسیالیستي گوندونو اتحادیه) هم وایي، چې په ۱۸۸۹کال کې د انگلس په هڅو رامنځته شو. د انگلس له مرگ څخه وروسته، دوهم بین الملل د ریفورمیزم او اپرچونیزم په تېرایستني وغولید او په تدریج سره په ټولو فعالیتونو کې د سولې ضد او د کمونیزم ضد شو او د بورژوازۍ ترڅنگ ودریدی.

د دوهم نړیوال جنگ څخه وروسته ددې بین الملل فعالیتونه ودریدل. وروسته په ۱۹۵۱کال کې (سوسیالیستي انترناسیونال) رامنځته شو، چې ټول سوسیال دموکرات گوندونه او سوسیالیست گوندونه متحد کړي.

۳-دریم انترناسیونال یا کمینترن (کمونیستي بین الملل). دا بین الملل د لنین په نوښت، د ۱۹۱۹ کال د مارچ په میاشت کې رامنځته شو. ددې انترناسیونال موخي د دوهم بین الملل

داپرچونیزم پر ضد مبارزه، د مارکسیزم د انقلابي روح راژوندي کول او د نوي ډول کارګري ګوندونو جوړول ول.

ددې بین الملل وروستۍ کنګره د ۱۹۳۵کال په جون-اګسټ کې ترسره شول. وروسته د کمونیستي ګوندونو د ودي او د نړۍ په هغه برخو کې چې دا ګوندونه مبارزه کوي؛ د مبارزې د شرایطو د پیچلي کیدو سره، ددې ګوندونو د اداره کولو مسئله له یو واحد مرکز څخه لیري شول.

دا دی، چې وړونه ګوندونه د دوو اصولو په اساس انترناسیونالیزم او د خپلواکۍ د اصل له مخې عمل کوي.

مارکس، انګلس او لنین د نړیوال کارګري انقلابي غورځنګ ستر رهبران دي.

کارل مارکس په ۱۸۱۸کال کې زیږیدلی او په ۱۸۸۲کال کې وفات شوی. هغه د علمي کمونیزم، د ډیالکټیک ماټریالیزم د فلسفې او د علمي اقتصاد بنسټ ایښودونکی او د نړۍ د پرولتاریا لارښود او پېشوا دی.

فریدریک انګلس په ۱۸۲۰کال کې زیږیدلی او په ۱۸۹۵کال کې وفات شوی. هغه د مارکس نږدې او د ټول عمر همکار وو، د مارکسیزم لوی علم بنسټ ایښودونکی او په ټولنیزو مبارزاتو کې هم د هغه همسنګر وو. د مارکس تر مړیني وروسته یې د هغه چارو ته دوام ورکړ. انګلس د مارکس په څېر د نړۍ د پرولتاریا لارښود او پیشوا دی.

ولادیمیر ایلیچ لنین په ۱۸۷۰کال کې زیږیدلی او په  ۱۹۲۴کال کې وفات شوی. دی د مارکس او انګلس کارونو دوام ورکونکی، د روس او د نړۍ د پرولتاریا پیشوا او د شوروي د کمونیسټ ګوند او د لوی سوسیالیسټي دولت بنسټ ایښودونکی دی.

## په افغانستان کې[۱۰]

په افغانستان کې د کارګرې او سوسیالیستي غورځنګ، مخینه د امان الله خان د واکمنۍ پر مهال، «د افغانستان انقلابي کمیټې» جوړولو ته رسېږي، چې مشري یې محمد یعقوب کول. د تېرو سلو کلونو راهیسې په افغانستان کې ډېر سیاسي بهیرونه، ګوندونه او غورځنګونه را منځته شوي دي، چې یوه زیاته برخه یې کیڼ اړخي سازمانونه هم ول، خو دغو سازمانونو او ګوندونو (چې دلته یې د نوم اخیستلو څخه ډډه کوو) یو هم په سم ډول د علمي سوسیالیزم او مارکسیزم – لنینزم سره آشنا نه ول او د کیڼ او ښې ریژیونیزم او اپرچونیزم په نوساناتو کې یې سیاسي ژوند کړی وو.

زموږ هیواد چې لا تراوسه د فیوډالیزم او تجارتي پانګوالۍ تر شدید استبداد لاندې پاته دی او په افغانستان کې د مترقي – کلاسیکې پانګوالۍ او بورژوا دموکراتیکو انقلابونو دندې (سیاسي او اقتصادي خپلواکي، د صنایعو او پانګوالۍ د مناسباتو رامنځته کېدل، د ځمکې د مسئلې دموکراتیک حل، د ملي مسئلې حل، د سیاسي دموکراسۍ تامین) لا تراوسه سرته نه دي رسیدلي؛ همدا شدید تاریخي وروسته پاته توب خپله د کیڼ اړخو بهیرونو د لارورکۍ او ماتې لامل شوی، ځکه دوی د سوسیالیزم د جوړولو او ډموکراټیک انقلاب د دندو ترمنځ، یوه ته په لومړیتوب ورکولو کې ورک ول او تقریباً ټولو د مارکسیستي شعارونو سره د ډموکراټیک انقلاب دندې ترسره کول غوښتل، خو په عمل کې نه د ډموکراټیک انقلاب د دندو په ترسره کولو بریالي شول او نه د سوسیالیزم د جوړولو. ددې لامل، د شدید وروسته پاته توب په شرایطو کې، د اصولي مارکسیستي – لنینستي کرښې په ایستلو کې د دغو بهیرونو کمزوري او کم ظرفیتي وه، ځکه دوی په هم مهاله ډول، د ډموکراټیک انقلاب د ترسره کولو او سوسیالیزم د جوړولو طرحه، چې د (خلقي ډموکراټیک انقلاب) ترسره کول ول؛ سره آشنا نه وه، یا یې د هغه مهال رهبرانو قصداً نه غوښتل، دا طرحه ومني.

[۱۰] - د کتاب ددې برخې زیاتونه، د کتاب د پښتو ژباړې د تصحیح کونکي (غ.س) لیکنه ده.

د ملي انقلابي او ملي ډموکراټيکو غورځنګونو د مبارزو په لړ کي، د امان الله خان د واکمنۍ پر مهال، په هيواد کي د ډموکراټيکو سمونونو د راوستلو لپاره هڅي وشولې، چي د پيرنګي استعمار او کورنۍ ارتجاع لخوا د غبرګون سره مخ او د امان الله خان حکومت يې نسکور کړی. وروسته، د ۱۳۵۷ کال د ثور پر اوومه نېټه، د افغانستان د خلګو ډموکراټيک ګوند په واسطه، د نظامي پاڅون په ترڅ کي د ثور ملي او ډموکراټيک انقلاب بريالی سو.

**د ثور انقلاب، چي ډيری يې کمونستي او سوسياليستي انقلاب بولي؛ په واقعيت کي يو ملي او دموکراتيک انقلاب وو، چي په هيواد کي يې د ملي او دموکراتيکو اصلاحاتو د راوستلو تګلاره درلودل، خو د انقلاب د مشرانو له لوري، د بې مورده سوسياليستي او کارګري شعارونو د وړاندي کولو او سوسياليستي هيوادونو سره د ملګرتيا په خاطر، د هيواد او انقلاب دوښمنانو کمونستي او سوسياليستي انقلاب ګاڼه.**

د ثور انقلاب، د بيلابېلو عواملو له کبله، په افغانستان کي د ملي او دموکراتيک انقلاب دندي ترسره نسوای کړای او د ډاکټر نجيب الله د واکمنۍ د نسکوريدلو سره، افغانستان امپرياليزم پوري تړلو د فيوډالي ارتجاع او تجارتي پانګوالۍ عناصرو لاس ته ولوېد.

نن ورځ په افغانستان کي، د ډموکراټيک انقلاب دندي لا هم پاته دي او ښکاري، چي يوازي د کارګري طبقې مخکښ عناصر (کمونستان) د واحد کمونستي ګوند او مارکسيستي – لنينستي تيورۍ سره کولای سي، په افغانستان کي د خلقي انقلاب په واسطه هم د ډموکراټيک انقلاب دندي ترسره کړي او هم د افغانستان لار سوسياليزم ته وباسي. ددې کار لپاره، اړتيا ده، چي لومړی پر مارکسيزم – لنينزم باندي، د هغه د مطالعې او پوهيدني له لاري فکري يووالی را منځته شي، ورپسي يو واحد کمونستي ګوند جوړ شي، تر څو سياسي واک کارګري طبقې مخکښ نمايندګان، د خلقي دموکراتيک انقلاب له لاري په لاس کي واخلي او په افغانستان کي هم د ډموکراټيک انقلاب دندي ترسره کړي او هم يې د سوسياليزم لور ته رهي کړي.

# پای

د انقلابي گوند د مبارزې د ستراتيژۍ او تاکتيک بنسټيز قواعد، د تجربې پر بنسټ ترلاسه شـــوي دي. د غور څنگ د عيني او ذهني شرايطو دقيقه مطالعه، د نړۍ او هيواد د حالاتو مشـــخص تاريخي تحليل، د کيڼ او ښي رويزيونيزم او د کيڼ او ښي اپرچونيزم څخه ډډه کول؛ مطلوبو پايلو ته د تاکتيک او ستراتيژۍ د رسيدلو شرط دی.